کابل

ادبي، تاريخي او اجتماعي

Copy

June - July 61

پرله پسې ګڼه: ۵۰۱

حمید بابا

خدای مې مه کړه هسې دروند چه په چابار شم

که منصور غوندې په دار او په سنګسار شم
نشته دا چه ستا له مینې تو به ګار شم

څو مې شته د عشق خوارۍ هومره ښادی ده
که مې ورکه دا خورۍ شوه نور به خوار شم

هیڅ له زهده را ته مه وایه ناصحه !
اوزګارې به هاله کړم چه وزګار شم

د خسڼی په څېر سپک ښه یم بېقدره
خدای مې مه کړه هسې دروند چه په چابار شم

که مې قد د سرو قد راشی په خوا کښې
د چمبېل په دود به سل ځله ترې ځار شم

د لالۍ ته مې یوسف تر خوا شا کیږی
په بازار چه یې د حسن خریدار شم

چه خطا خطا ګوزار کړی رسا لګی
هك حیران د جادو چشمو په ګوزار شم

هر سړی دغه ارزو کړی بارې نه شی
که حمید غوندې او څار په ښه ګفتار شم

کابل

چنګاښ (۱۳٤۰ش) کال د (۱۳۸۱ ق) کال د (۱۹٦۱ ع) کال جون او جولائی

ادبي ، تاریخي او اجتماعي

امتیاز	:	د پښتو ټولنې
د پښتو ټولنې مشر	:	ګل پاچا الفت
مسئول مدیر	:	محمد حسن کاکړ
د تیلفون نمبر	:	۲۱۲۹۱
پته	:	شیر علي خان وات، نوی ښار ، کابل افغانستان

په دې کنډکښې

شمېر	لیك	لیکوال	مخ
۱	نوي ژبپوهنه	حبیب الله تبزی	۱
۲	دخوست محلی لهجې	محمدصدیق روهی	۵
۳	سیدو ملنگ	عبدالله بختانی	۱۲
٤	دنبوغ مخالفت	قیام الدین خادم	۲۸
۵	اشعار	داوسنیو شاعرانو	۳۷
٦	دکولتور کړی	حسن کاکړ	٤٦
۷	کابل مجله دشوروی مطبوعاتو په نظر کښې	معتمدشنواری	۵۳
۸	دتیرو پسر ایوپه یاد	محمدیوسف سابی	۵۵

داشتراك بیه

(په افغانی)

په کابل کښې ۴۰

دهېواد په نورو برخو کښې ۴٦

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

دباندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوی کښې بیه : ۴

دشپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي

دپښتو ټولنې دجاری حساب لمبر په افغانستان بانك

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراك بیه په ادارد کښې هم اخېستل کېږي

حبیب الله « تبزی »

نوې ژبپوهنه

اوزړې خبرې

ژبه او لیک :

په تیره ګڼه کښې ما تر همدې پورته عنوان لاندې ځینی هغه حکمونه دڅیړنې دپاره راواخیستل چه د یو شمیر داسې خلکو له خوا شوی چه د نوې ژب پوهنې سره بلدیت نه لری، او هم مې یو څه هغه مسائل را منځ ته کړل چه د ژبې د څیړنی په ډګر کښې څه نوی او تر او سه لاز موږ لیکوالو د ژبې دعلم سره سم څه مفصل بحث نه دی پرې کړی . مګر څرنګه چه موضوع یوازې د یوې مقالې موضوع نه وه نو له دې امله په تیره ګڼه کښې پوره پری وونه غږیدم ، بلکه دمقدمې په توګه هسې په منډه رڅخه تیر شوم . دادی اوس له دې ګڼې څخه غواړم چه په تیره مقاله کښې ذکر شوی سوالونه ـ حکمونه او مسائل په جلا ډول سره وڅیړم . ځکه دا هغه خبرې دی چه پرته د هغو د سپینو لو څخه دنوې ژب پوهنې په مسائلو غږیدل او دژبې د مطالعې په برخه کښې نوی اساسات را منځ ته کول ګومان کوم څه ځای نه نیسی زما په فکر ترڅو پوری چه هغه منفی خیالات چه یې زموږ ذهنونه په ډیر شدت سره اشغال کړی دی له منځه ولاړ نه شی ، تر هغو پوری یې مثبتې خبرې ځای نه شی نیولای . ځکه دغه منفی خیالات په تیر یدو د مهال دې حد ته رسیدلی دی چه اوس اکثرو خلکو ته تر حقیقت څخه کم نه بریښی .

دوی له دی خیالا تو سره د اسې روزل شوی دی چه یې د بطلان فکر هم نه شی کولای . کله که موږ دانسان د ماغ د کاغذ یوې سپینې پاڼې سره تشبیه کړو او داهم فرض کړو چه دا پاڼه په هسې بې معنی کرښو توره شوې وی ، نو په دې صورت کښې پرته له دې چه دې دغه پاڼه دسره په یوه «حکمت» سره پاکه او سپینه شی تر هغو پورې نورې خبرې ولو که مثبې هم وی داسې نه شی ور باندی کښل کیدلای چه دی یې اثر د دغې پاڼې پرمخ څرګند شی .

دغه ډول ترڅو پورې چه د دماغ د صفحې څخه هم هغه منفی خیالات چه ور باندې تفش شوې دی په هسی کلکو ضربو محوه نه کړو تر هغو پورې مثبت افکار نه شی ور باندی نقش کیدلای . ځکه شاعر وایی:

چیرته یو څلی و را نیده ما و یل
چه وران یې نه کړې جوړ یدلای نه شی

دلته دژب پوهنې په برخه کښې د پروفیسور «روبرت اې هال» خبره دا خبرې هغو مقناطیسی ټکانو نو ته پاتې کیږی لکه یو روحی ډاکټر یې

چه روحی ناروغانو ته تجویزوی .

دا مقناطیسی ټکانونه په لومړی سر کښې دهغو ناروغانو له حافظې څخه چه په روحی اختلال ککړوی ټول واهی خیالات محوه کوی اودا په لومړی ګام کښې ناروغه رټ سربداله پاه کری» کوی مګر په حقیقت کښې همدا بد حالت د یوه آینده ښه حالت یعنې هغه حالت مقدمه ده چه ناروغه له واهی خیالاتو څخه خلاصیږی او وروسته له دې درست فکر کوی . له همدې امله نو موړی پروفیسور دځینو نورو او سنیوژب پوهانو په څیر په خپل هغه مشهور کتاب کښې چه ددې مقالې په پای کښې به د مرجع په حیث وښودل شی لومړی دژبې په برخه کښې غلط خیالات تر دیدوی او بیا پسی دنوې ژب پوهنې مباحثو ته ورننوزی .

دادی زه هم په دې مقالو کښې همدا کار کوم او دهغو حکمونو مسائلو او پوښتنو څخه چه مې یه تیره ګڼه کښې طرح کړی ووتر هرڅه نه دمخه د «لیک او ژبې دار تباط» مسأله را اخلم اوورباندې غبز یږم . ځکه یوه له هغو خبرو څخه چه دډیروزیاتو بیځایه حکمونو او اشتباهاتو سبب ګرځیدلې ده هغه دا ده چه تل ژبه او لیک سره ګډ شوی او ژبه او لیک یو شی ګڼل شوی دی .

مثلاً دغربی نړۍ «په یوه مشهور رائج کومیک کتاب کښې د کیسې مهم کار کوونکی یوه عجیب ستوری ته ځی . دوی هلته له داسې خلکو سره مخامخ کیږی چه ګړیږی مګر لیک نه لری د کومیک کتاب اتلان انګلیسی الفبا برابر وی اوددغه ستوری او سیدونکو ته یې ورزده کوی ، دلته ده چه یو له دغو اتلانو څخه وایی :

اوس نوددې ستوری خلک دژبی خاوندان شول »

دغه ډول دپاړسو یو استاد لیکلی :

«څرنګه چه ګرانو لوستونکو ته څرګند ده ډیر زیات وخت کیږی چه په پاړسو ژبه کښې یو دعجیبه ګډوډی راپیدا شوې ده او دا ګډوډی تر ډیره زیاته حده پورې د ځلمیانو لیکوالو له خوارامنځ ته شوې ده... ددې ګډوډۍ په نتیجه کښې خبره نن دې ځای ته رسیدلې ده چه دپاړسو ژبې د کلماتو په املاء کښې اختلاف لیدل کیږی چه دازموږ د کمزورۍ ډیر لوی دلیل دی »

همداشان «په یوه کتاب کښې د فرانسوی ژبې دمبتدیانو دپاره داسې یو ډول فرانسوی املاء استعمال شوه چه یې داملا دمعمولې طریقی سره رټ توپیر لاره اوداداسې طریقه وه چه په یوه ځانته سسټما تیکی ډول ددې مقصد دپاره طرحه شوې وه تر څولو ستونکی د ژبې غبزونه په وضاحت سره تشخیص کړی .

مثلاً په دې املا کښې Chaud ـ تود ـ Shôd لیکل شوی و . Mauviase ـ بد ـ Mo-VEZ لیکل شوی ؤ .

froide ـسوړ ـ FRWAD لیکل شوی ؤ اوداسې نو ر .

ډیرو خلکو چه دغه کتاب لوستی هغوی دغه طریقه خو ښه کړې د ه . مګر ځینو زده کوونکو سره بیاداپوښتنه پیداشوې ده چه :

اصلی ژبې ته به څه وخت و ر د اخل شو ؟

امایوتن له پوهانو څخه چه یې دغه کتاب نه دی خوښ شوی ور باندې اعتراض کوی او وایی

داصلی فرانسوی Chaud د پا ره Shòd لیکل یا د Mauvias د پا ر ه mo-VEZ لیکل دفرانسو ی ژ بې مقام راتیټوی .»

دغه ډول څرنګه چه مې د مخه ګڼه کښې هم ویلی وو په انګلیسی کښې night'light,fight د nite،lite,fite په بڼه لیکل غلطی ګڼل کیږی او وایی چه دا کا ر د ا نګلیسی ژبې حیثیت ته صدمه رسوی .»

په پورته ټولو مثالو نو کښې یعنې به لومړی مثال کښې هلته چه دکیسې یوتن اتل وایی :

«اوس نو د دې ستوری خلك د ژبې خاوندان شول .»

په دوهم مثال کښې هلته چه د پاړ سو یوتن استاد وایی :

«دژبې د ګډوډی په نتیجه کښې خبره نن دې ځای را و ر سیده چه د پا ړسو ژ بې دکلماتو په املا کښې اختلاف نظر لیدل کیږی .»

په در یم مثا ل کښې هلته چه زده کوونکی اریان د ی چه :

«اصلی ژبې ته به څه وخت ور ننو زو ؟»

یا هلته چه پرو فیسور وا یی :

«دادا ملا ډول دفرانسوی ژبی مقام راتیټو ی .»

په څلو رم مثال کښې هلته چه ځینی عنعنه پسندان وا یی:

« د night پر ځا ی nite لیکل دانګلیسی ژبې حیثیت ته صدمه ر سو ی .»

ښکاره لیك او ژبه سره ګډ شو ی د ی یعنې نه یوازې داچه دلیك او ژبې بیلوالی نه ور څخه څر ګندیږی بلکه په څر ګندډو ل سره لیك او ژبه یوشی ګڼل شوی دی . دغه ډول زمو ز په مدرسو او مکا تبو کښې هم تراوسه پو ر ې لادژبې دتدریس په برخه کښې داخبره عامه ده چه « کلمه » له « تورو » او « جمله » له کلمو څخه جوړه ده حال دا چه د غه خبر ه ر ته خا مه ده ځکه جمله او کلمه (البته او س ژ ب پو ها ن دژبې دتشریح په برخه کښې د ـ کلمه ـ اصطلاح هم نه استعما لوی ځکه چه د ا اصطلا ح هم خطا ایستو نکی او نا د ر سته د ه مثلا په ا سکیمو او فرانسوی ژبو کښې د ا نګـلیسی Word او یادپښتو کلمه په هغې معنا او ترتیب چه په موږ او یاانګلیسی ویونکو کښې موجوده ده له سره درك هم نه لری) په ژبه پورې اړه لری او توری یاحرف یا Letter په « لیك » پورې .

البته په دې کښې څه شك نشته چه زمو ز ځینو هغو لیکوا لو ته چه ر « ژبه » غږ یږ ی

داخبره هم وررسیدلې ده چه «توری» د و ییز Vocal غبزرسم (۱) دی.

اما څرنګه چه مطلب ته پوره نه دی ورلویدلی بیاهم خبرې ورڅخه ګډ یبزی او ددې ګډوډی په پای کښې نه یوازې دا کوی چه «توری» او «وییز غبز» یوشی بولی بلکه ژبه هم اکثرد «توری» په اساس مطالعه کوی او «وییز غبزونه» په تورو کښې پراته ګڼی.

مثلاً دپښتو یوډیر مشهور لیکوال کله چه دپښتو ژبې پر تشریح کار کوی نودفونولوجی Phonology یادده پخپله اصطلاح «غبز پوهنه» (۲) تر عنوان لاندې لیکلی:

«داصواتو دغبزو دښکاره کولو دپاره ځینې اشکال وضع شوی دی چه هغه موږ حروف او توری بولو»

مګر په همدې مبحث کښې وروسته تر یو څوکرښو بیا لیکی:

«ټوله ژبې ځینې صحیح حروف هم لری چه غبزونه یې دصائتو حروفو په کومك ښکاره کیږی. دغه صائت حروف د ژبو اساسی غبزونه دی چه په اکثرو ژبو کښې سره مشترك دی او ممکنه ده چه ځینې ژبې مخصوص صائت توری هم ولری.»

«دلته د مخه ترهرڅه په دې باید پوه شو چه دژبې په صوتی سسټم کښې دمحیط او اقلیم او اجتماعی ضروریاتو اثر دومره دی چه په نژ دې اقلیمونو کښې دغه غبزونه سره اوړی...

مثلاً یو توری په یوه ځای کښې خلک یو رازوایی. بل ځای هغه توری بل ډول غبزلری.»

دغه ډول زموږ دګرامر یانو په یوه بل ډیر مشهور ګرامر کښی له یوې خوا لیکل شوی دی:

«هغه ساده او بسیط او ازونه چه له خولې څخه وزی دهغو تحریری اشکال حروف یعنی توری او الفبا بلل کیږی.» (پاتې په ٤۲ مخ کښې)

---

(۱)-ژب پوهان ددی دپاره چه هغه غبز چه په وینا او ګړیدا کښې استعمالیږی دنو روغږ ونو څخه جلا کړی نوتل یو بل لفظ هم ورسره علاوه کوی مثلاً په انګلیسی کښې سپیچ سونډ Speech sound او یاد ژب پوهنې د اوسنیو پوهانو په اثارو کښې اکثر ووکل سونډ Vocal sound ورته وایی چه په همدې اساس یې زه په پښتو کښې «وییز غبز» بولم او پخپلو لیکنو کښې یی استعمالوم.

(۲)-زموږ لیکوال د ژبی په تشریح کښې دوییز غبزد «مطالعی» په برخه کښې یوازې د «دغبز پوهنی» اصطلاح دفونولوجی Phonology په معنا استعمالوی. مګر باید وویل شی چه دوییز غبز مطالعه یوازې په فونولوجی یا پر کټکل فونټکس Practical phonetics یا په اوسنی اصطلاح فونټکس Phonemics پوری نه ده محدوده بلکه دمخه تر دې مبحث څخه دوییز غبزد مطالعې هغه ډول هم په نوې ژب پوهنه کښې ځای لری چه فونټکس Phonetics بلل کیږی او زموږ په ګرامرونو کښې تر اوسه لا ځای نه لری ✿

✿خو کله که دغه اصطلاح پښتو ته ورننوزی او باید ورننوزی نو ترجمه به یی په «غبز پوهنه» سره بده نه وی چه په دې صورت کښې فونیمکس بیا ځانته بله اصطلاح غواړی.

محمد صدیق روهی

د خوست محلی لهجې

ژبه هم د نوروفزیکی او اجتماعی پېښو (Phenomena) په شان تحول کوی او په خپله لرغونی بڼه نه پاتې کیږی. که څه هم اجتماعی، سیاسی او اقتصادی پېښې پرژبه باندې اغېزه کوی مګر دژبې تحول دومره ګړندی نه دی او نه ژبه په ناڅاپی یا انقلابی ډول تغییر کوی. یوسړی دخپل پلار او نېکه په ژبه پوهیږی. همدارنګه دی دخپل زوی او لمسی په ژبه هم پوهیږی نو ویلای شو چه ددغو شپږ و پلرونو په موده کښې د ژبې تحول ډېر لږ او نامحسوس دی اما سره له دې ژبه په خپل حال نه پاتیږی او دزمانې په تېرېدو خپله بڼه له لاسه ورکوی. ددې حقیقت د اثبات دپاره ډېر زیات مثالو نه شته. د (Horace) د وخت انګلیسی دشکسپیر د زمانې سره او دشکسپیر د وخت انګلیسی له اوسنی انګلیسی سره پوره توپیر لری. که څه هم دپښتو ډېر پخوانی آثار زموږ لاس ته نه دی راغلی چه موږ دهغې له مخې دپښتو اوسنی او لرغونی بڼه سره پر تله کړو خو سره له دې دپښتو هغه لومړی اثر چه زمونږ ګوتو ته رارسیدلی دی دامیر کروړ شعر دی. په دې شعر کښې ځینې داسې کلمې شته چه اوس له استعمال نه لویدلی دی لکه میرځمن - یونم زړن او داسې نور. اوس موږ ددې مثالونو په رڼا کښې دې حقیقت ته رسیږو چه دپښتو اوسنی محلی لهجې له یوې مورڅخه زیږیدلی دی. دغه محلی لهجې (Dialects) په خپلو منځو کښې او هم له خپلې مور سره تو پیر لری. موږ ته په اوسنیو شرایطو کښې داحقیقت پوره نه څرګندیږی چه له دغو لهجو څخه کومه یوه دخپلې مور سره ډېر نژدې والی لری او که فرضاً موږ دغه حقیقت ته ورسیږو بیاهم داخبره ددې دلیل نشی کیدای چه هغه لهجه دې ترنورو صحیح، معتبره او مرجحه وی. دیوې ژبې ټولې لهجې صحیح دی او مونږ نشو کولی چه یوې لهجې ته صحیح او بلې ته غلطه ووایو یا یوې لهجې ته دبلې په نسبت ترجیح ورکړو البته مونږ داخبره ددې دپاره نه کوو چه هر څوک دې په لوستلو او لیکلو کښې خپله لهجه استعمالوی او با لنتیجه دپښتو په لیک او لوست کښې دې ځانګړانی او ګډوډی راشی بلکه زموږ مقصد دواقعیتونو تحلیل او ترکیب دی. ښایې چه دمختلفو محلی لهجو څېړنه او پلټنه د یوې معیاری پښتو د تثبیت دپاره پوره مرسته وکړی.

ددغو لهجو په څېړنه کښې ماته ددې خبرې یادونه هم ضروری ښکاری چه ښایی زما دغه څېړنه به متود یک نه وی مګر دهغه چاد پاره

چه په دې برخه کښې اساسي او متوديك پلټنې کوي زيات موادراغونډ شوي دي. له بلې خوا دسيمه ييزو لهجو د مطالعې لپاره دځينو ګرافونو او جغرافيوي نقشو ترتيبول هم زيات اهميت لري چه دهغې له مخې دهرې لهجې ټاکلي ځايونه وښو دل شي. نوددې مقصد دپاره مې يوه وړوکي نقشه ترتيب کړه او ښايي چه په راتلونکي کښې به دغه نقشې ته توسعه ور کړي شي.

دخوست محلي لهجي:- خوست د پکتيا دولايت په ختيځه برخه کښې واقع دي، شاوخوا يې غرونه راګرځيدلي دي. اويديځ خواته يې ځدران، سهيلي خواته يې تڼي او ګربز، خيتځ خواته يې ځاځي ميدان، کورمه او ښي خواته يې منګل اوزني خيل پراته دي. مونږ دخوست د لهجو دمطالعې دپاره دخوست دشاوخوا سيمو او ځيني نورې پښتني لهجې هم ترڅېړنې لاندې نيسو او له هغو سره يې پرتله کوو.

دژ پوهنې له مخې ديوي ژبې په تحول کښې ږغيز (Vowels) توري تر چپ (Consonants) تورو ډېر ژر تغيير کوي. دغه تغيير د پښتو په لهجو کښې عموماً او دخوست او دهغه دشاو خوا سيمو په لهجو کښې مخصوصاً ديا دونې وړدي. که مونږ دلرې او برې پښتونخوا ټولې لهجې ترکتنې لاندې ونيسو په لومړي نظر ددغو لهجو په منځ کښې يو څرګند توپير وينو. لومړۍ ډله هغه لهجې دي چه دهغوې ليك او اوست په ښوونځيو ورځپاڼو او نورو خپرونو کښې تعميم شوي دي او ځانته يې معياري بڼه غوره کړې ده. دوهمه ډله هغې لهجې دي چه دلومړيو لهجو (الف) په مجهول واو بدلوي او تراوسه پورې په دغه ژبه ليکنې او خپرونې نه دي شوي. دخوست، وزيرو، مسيدو، دوړو، بنو، منګلو، ځدرانو تڼيو، سبريو، ګربزو، څمکنيو، ځاځيو، تريزيو توريو، بنګښو، کوهاټ، پير کوتيې او ځيني نورې لهجې په دغه دوهمه ډله کښې راځي. په دې لهجو کښې د (ګران، کابل، کندهار، کتاب کاغذ، کال، ژړا، تر کاڼ، کار، بام، زيات ...) پر ځاي (ګرون، کوبل، کنده ور، کتوب، کوغاز کول، ژړو، تر کوڼ، کور، بوم، زيوت ...) استعماليږي که څه هم په ځينو پر د يو کلمو او ځينو خاصونو مونو کښې ښايي چه دا تغييرات کله کله ونه ليدل شي مګر سره له دې په دغه دوهمه ډله لهجو کښې دا تمايل ډېر زيات دي حتي ځيني کلمې يا نومونه چه همدا اوس پښتانه ورسره اشنا شوي دي دهغوي (الف) هم په مجهول واو بدلوي لکه چه د (ډرام) پر ځاي (ډروم) استعمالوي.

سره له دې موږ نشوويلي چه دلومړۍ ډلې لهجو دهر (الف) په مقابل کښې ددوهمې ډلې (مجهول واو) راځي خو بيا هم په هغو ځايونو کښې چه (الف) تغيير نه خوري ددوهمې ډلې لهجو (الف) يو اځي ديوه حرکت (زور) په اندازه

اداء کیږي. مثلاً دخوست په لهجو کښې د(کاسه اعلی-سینما- بیدیا-) پر ځای (کهسه-اعله-سینمه بیدیه) ویل کیږي. ددغو سیمو پښتانه که دفارسی داجمله (ترادر بازار کابل دیدم) وایی نو معمولا دغسې به یې تلفظ کړی (تره در بزار کبل دیدم) او په پښتو کښې به یې داسې ووایې (ته مې د کوبل په بزور کې ولیدې).

پخواتر دې چه دخوست مختلفې لهجې او دهغوی ترمنځ توپیر وڅېړو دمثال په ډول دالاندې څو جملې دخوست په عمومی لهجه لیکم:

ژمی تېرشوو، سپرلی روغلو. په سپرلی کې ونې پونې کی، ګلون غوړیګی، اوو وریځ په وریځ تودیګی. سپرلی د کورواخت دی.

دغه پورته جملې په لومړۍ ډله لهجو کښې داسې ویل کیږي: ژمی تېرشو، پسرلی راغی. په پسرلی کښې ونې پاڼې کوی ګلان غوړیږی، هواورځ په ورځ تودیږی پسرلی دکاروخت دی.

• دخوست دلهجو ویشنه:- لکه څنګه چه دوهمه ډله لهجې له لومړۍ ډلې څخه د(الف) په بدلون فرق کوی، همدغسې دخوست لهجې د(واو) په بدلون په خپل منځ کښې یو تر بله توپیر پیدا کوی. دمثال په ډول د(مور) لفظ په خوست کښې څلور ډوله لفظ لری: مور (معروف واو) مېر (مجهوله یا) مور (مجهول واو) مر (دمیم په پېښ چه له مجهول واو څخه هم زیات خفیف اداء کیږي).

که څه هم دخوست لهجې ډیرې زیاتې دی او ویلای شو چه کله کله دلهجو اختلاف او توپیر کلی په کلی هم لیدل کیږي، مګر بیاهم یوه لهجه له بلې څخه د(واو) په تغییر سره پیژندل کیږي. هغه قومونه چه دمور لفظ په (معروف واو) ادأ کوی دادی: متون، لکڼ، تریزی، سبری ځائی میدان، بکرخیل (باك).

هغه قومونه چه د(مور) لفظ په (مجهوله یا) ادأ کوی دادی: ځدراڼ، تڼی، زنی خیل، یوه برخه مندوزی (شډل، حسن زی، درنامی، شبی خیل در کوټی) یوه برخه اسمعیل خېل (دلپوری مټه خون، برخو نخیل) ګربز، سیدګی، وزیر مسید، دوړ، بنوڅی او داسې نور:

منګل دمور لفظ په مجهول واو ادأ کوی.

داسمعیل خیلو د قوم ځینې طایفې لکه (حیدرخیل، ډډوال، بهرام خیل، مردیخیل) او دمندوزیو ځینی طایفې (اسمعیل زی، پاینده خیل) اودخوست دشمل یوه برخه د (مور) کلمه په خفیف پېښ (مر) ادأ کوی:

په هغو لهجو کښې چه مجهول واو په (مجهوله یا) بدلیږي، معروف واو هم په معروفه یا ادأ کوی مثلاً د (لور، انګور، اوښ کوڼ، اوس) پر ځای (لیر، انګیر، ویښ، کیڼ ویس) وایی:

دلهجو نور اختلافونه په لغتونو، جملو او د جملو په آهنګ کښې لیدل کیږي:

دا دی ځینی لغتونه او جملې په مختلفو لهجو کښې مطالعه کوو :

لومړۍ ډله لهجې	دوهمه ډله لهجې
۱- امر: راځه	ارڅه- روڅه
راشه	روشه
لاړشه	لوړشه
ورشه	وارشه- ویرشه
واچوه	ووچوه- ویچوه - وتریه
وڅښه	وچیښه-وچیخه- وڅکه
ووایه	ویایه - وویایه
وګوره	وګیره - وکسه
ګوره	ګیره - کسه، کېس
کوزشه	کوزشه (کوشه)- کیشه
ورکړه	وېرکه - وارکه
ووهه	وویه
راوځه	اروځه-ارووځه-رووځه
راکړه	روکه-تروکه(تهروکه)
راښکاره کړه	راسې که-تراسې که
	جوت یې که -وریېت که
ومومه	ومومه-ومیمه-بیا میمه-بیامومه
دروازه بیرته کړه	دړه وریاکه-درویزه لرې که
ودریږه	ودریګه-ودره- ودریژه
منډې ووهه	منډې که-وتخته-وتښته-ورځه ودنګیژه

۲-مصدر :

لومړۍ ډله	دوهمه ډله
ویل	یل-ویل (دواو په سکون)
اچول	چول - تریل
ښوول	ښیل-خیل-شیل
لوستل	لویلول -یل - ویل
ساتل	سوتل

۳ - ماضی فعل

راغی	روغی-روغلو-روغللو-اروغلو
ولاړ	لوړ- لوړو
ورغی	ورغی ه ورغلو-ویرغلو-ویرغللو
وکوت	وکتو - وکتلو - وکیت
ولید	ولیدو-ولدو- ولدلو، ولیدلو
وخوت	وخوت-وخیت -وختو- وختلو
راغلی وو	روغلی وو-روغلی وی-اروغلی وو

٤ -فعل حال

راځی	ارڅی - روڅی
درومی	دریمی - درومی
وایی	یایی - ویایی
ګوری	کسی- ګیری
وړی	وری- وړی
پوهیږی	پېیېګی-پېیېژی
کوی	کی - کوی - کو

٥ - لغتونه

سر- کوپړۍ	سار - کوپرۍ - کوپری
ماغزه	مزغه - متخرځې
ویښته	وښته- وېښته،وخته
پزه	پېزه - پوزه

ښاغلی الفت اود افغانی کولتوری هیئت ،نور غړی چه په دې وروستیو وختو کښې مسکو ته دشوروی-
افغانستان ددوستی تولنې له خوا بللشوی وو،دهغې تولنې له مرستیال ښاغلی دووریانکوف اونورو سره .

لومړۍ ډله	دوهمه ډله
وروځې	وریځې وروځې
غوږ	غویګ- غیګ.غوګ-غویژ
لاس	لوس
نوم	نوم - نیم
زنګون	زنګون -زنګین- زنګن
پښه	پښه- پخه - خپه
ښوروا	شوروو- شیروو- زېمنه زوامنه- زویمنه
لار	لیار
هلك	وړکی-ووړکی-ویړکی
نجلۍ	جلکۍ-جینکۍ-جلۍ- لجینه-ویړکې
زوی	زای - زواې
مېرمن	ورمن
ښځه	ښځه-خځه - ښځه
غوا	غو
غوایی	غوڅکی
مېږه	میېګه- میېژه- آړه
لوټه	لوټه-لټه- لیټه-ماتره
چارمغز	مټاك
جلغوزی	ځړغونځی - نوغړزی
سیلاب	تې-توې- نیز
دښمن	دښمن-دښنه-دخمن
جارو	رېبځ
پکه	ببوزی- ببیزی
رسۍ	رسۍ-بد ریشه-پړی
لنګوټی	پټکی-دېستور

لومړۍ ډله	دوهمه ډله
څیری	بژه - څیری
خدای	خدای- خدې- خدو
حلوا	الوو- وریشه
سوړسك	سوکړك - ګډلی- پیاڅه
اوړه	اوړه-ویړه-ایړه - اتوم
غنمینه ډوډۍ	نغن
اوربشینه ډوډۍ	روټه-روټه،رټه- رېټه
شلومبې-شړومبې	پۍ،تروې،شنېمبې
شفتالو	شوتولو- شوتولی
انار	انګوړی-انګړی-انګیړی ننګړی-ننګیړی
توت	توت - تت- تیت
باران	برون-شیګره-شوګره-ورینګی
خپل	خپل- پخل - اخپل اپخل
پسې	پسې- سپې
خولۍ	خولۍ-خویلی-خیلکۍ خویلکۍ-ټپۍ- ټوپ ، پیخه
څپلۍ	څپلۍ- کیړۍ- کوړتاکې
کمیس	خت
کالی	کولی - جومې- ختې
پرتوګاښ	باګه-پرتیګوش
څادر-لوپټه	جوبټه- پټکی
بړستن	بړستن- شیراك
بالښت	بولښت - سریګدی
منقل	منکل- انګیټۍ
بیت الخلا	ټاټۍ
ښکنځا	زیاړې

لومړۍ ډله	ډوهمه ډله
هګۍ	وییه- و یه
مړز	بټیېر
چوغکه	چرچره - کېټووله
ښارو	مینکه-مینو-شره کۍ
مېزه	مېګکه-مګه- ګنډو رڅه
سویه(سوی)	سویه-سییه- علی خرګۍ
جګ	جګ- ډینګ
لومړی	اتیو ا ن
تریو	تریو-تروش-ټوك
بهر	ورچینه- ور چنې- بید یه
جلا	جدو-بګول-ګوښی ګوخی
پسرلی	سپرلی- څړمینی-څړمنی
ګاډۍ	ګاډۍ-بګۍ-ټا نګه
وزمه	الوېښ- الوېخ- ا ېږمه
غلبیل	پر و یزی
باندې	بوند ې- نې
هم	ا -هم
د	د- ا ې
ستا	اېتو- دتو
دا(ښځه)	دو- دی
هو	آ- بې-ا ې
مې	مې - بې
کښې	کې - شې
شته	شته-شتو
مردك	مړد کی-غوټی-ګوټی-ګولۍ
بندر	بندار - وندار
اشر	اشار-پګاړه

جملې: - داپورته لغتونه دمثال دپاره بسنه کوی زماپه عقیده ددغو لهجو د لغتونو د پاره دجلا قاموسونو لیکل په کاردی،ځکه چه په پښتو کښې ددغو لهجوو جودیوواقعیت دی اوښایی چه دنورو لهجو تر څنګـه هغوته هم پاملرنه وشی اوس به ددوهمې ډلې لهجو څخه ځینی جملې راوړو چه دهغې له مخې لوستو نکوته دد غو لهجو توپیر څر ګندشی. البته په لهجو کښې دجملو آهنګ هم پوره اهمیت لری، هیله ده چه دجملو د آهنګ په باب به په راتلونکو وختو کښې څیړنې وشې.

لومړی دځینو لهجو دخصوصیاتو د مطا لعی دپاره ځینی زائد الفاظ چه کله کله د هغو معنا هم نه ده ښکاره - تر څیړنې لاندې نیسم.

دتنیو دلهجې یو خصوصیت دادی چه د(شی) لفظ په هره جمله کښې استعمالیدای شی. مثلاً: شی کله روغلې؟ (کله راغلې؟) شی چیرې څې (چېرې ځې؟) شی ورك شه (ورك شه). دوی (ورك) دواو په زور کی اود (ر) په سکون تلفظ کوی.

دګر بز اوسید ګیو په لهجه کښې د(ستی) لفظ په زاید صورت استعمالیبزی لکه: ستی روغلم (راغلم) ستی به دېرشم (در به شم). په ځینو مواردو کښې دالفظ د(نو-بیا- وروسته) په معنی هم راځی وزیرد(ستی) پرځای (ستای) اوبنو څی دهغې پرځای (ووسته) وایی.

د(منې) لفظ که څه هم د (یعنی) او(منې) معنی ور کوی مګر په اکثرو جملو کښې په زاید

صورت استعمالیبزی لکه: منې وخوره (وخوره) منې داسې دهته یایم (داسې درته وایم) منې زه به سبو ته روشم (زه به سباته راشم) دمنې لفظ د (مانې) په شکل هم راځی.

دمنګلو په لهجه کښې د (اړې) لفظ زائد استعمالیبزی لکه: اړې چیرته وې؟ (چیرته وې؟) اوې مړی مې نه دوخوړیلی (دوړی مې نه ده خوړلی).

همدا رنګه دزنی خیلو اومنګلو په لهجه کښې (غوچې) یا (غواچې) په زائد صورت راځی لکه: غواچې دومره سړی نه یې (دومره سړی نه یې) غوچې داسې کورمه که (داسې کارمه کوه).

دځدرانو، منګلواوزنی خیلو په لهجه کښې (اپلې) دتوجه دجلبولو دپاره استعمالیبزی مګر په اکثروجملو کښې په زائد ډول راځی لکه اپلې لوړ بوشو (لاړ به شو) اپلې زه نه روځم (زه نه راځم).

د پیر کوتیې په لهجه کښې (دې) په زاید صورت استعمالیبزی لکه: چیرته دې لوړوې؟ (چیرته تللی دې؟) بزورو ته دې لوړوم (بازار ته تللی وم) چا رمې دې کړه (کا رمې کاوه) او داسې نور.

(وشه) یا وشوه) دخوست په اکثرولهجو کښې په زائد صورت استعمالیبزی. مثلاً: وشه ده ته مې ووې (ده ته مې وویل وشه زه نه دیر ځم (زه نه درځم).

دغسې نوری کلمې هم په مختلفو لهجو کښې موندلی شو مګر دغه کلمې زائدې هم نه دی ځکه چه دغه کلمې کله کله د جملې په معنا کښې بلاغت پیدا کوی او یوائې دهغې لهجې ویونکی د غه کیفیت په ښه ډول در ک کولای شی.

فونیمونه :- په دوهمه ډله لهجو کښې دعربی د (ث - ح - ذ - ص - ض - ط - ظ - ع - ف - ق) فونیمونه معمولاً په (س - خ یاالف یاه - ز - س - ز یادال - ت - ز - ا یا غ - پ - ك) تلفظ کیبزی. مثلاً د (فقیر) پرځای (پکیر) د (فصل) پرځای (پسل) د (علی محمد) پرځای (الی مخمد) وایی. یوائې دپر لبز تعلیمیافته کسان دعربی له پورتنیو فونیمونو څخه ځینی فونیمونه په اصلی شکل تلفظ کولی شی.

دعربی له (تفحص) نه په پښتو کښې (ټپوس) اوله (صلح) څخه (سوله) جوړه شوې ده. ځینې خلك ددې دپاره چه دعربی فو نیمونو تقلید و کړی دخپلې ژبې فونیمونه هم په مغشوش ډول اداء کوی لکه چه د (پلار) پرځای (فلار) د (توکې) پرځای (ةوقې) وایی.

بر سېره پر هغو فونیمونو چه په لومړی ډله لهجو کښې استعمالیبزی په دوهمه ډله لهجو کښې د (ګ) او (غ) تر مینځ یو فونیم شته. مثلاً یوشمېر خلك د (نبز دې) کلمه (نېګدې) وایی نه (نېغدې) بلکه ددوی ترمنځ یو ډول خاص آوازلری همدارنګه دغه فونیم د (اپېزدن) او (ببزول) په کلمو کښې هم اوریدلی شو. پای

سیدو ملنګ

ډرام

په‌علورو نند ارو

کښې

لیکو نکی :

عبدالله «بختانی»

(دتمثیل او اقتباس حقوق لیکو نکی پورې اړه لری)

بختانی

لومړۍ ننداره

اشخاص :

سیدو	د مشر ور ور په حیث
نوروز	منځوی ورور
ګلاپ	کشر ورور
لالۍ	کشر ه خور
ددوی مور	
غندل	دسید واشنا
شاهین	د نوروز انډیوال
ریدی	د ګلاپ ملګری

د ګاو نډیانو نه یو ه ښځه

ځای

د یو غریب فامیل کورله غریبانه لوازموسره

(د کور خلك سره ناست دی سید و و یده دی مور یې ورته غږ کوی: سیدو! یه سیدو ګیه! پاڅیږه غرمه ده .....

سیدو: په کټ کینی سر یې زنګیږی بیرته پریوځی.

مو ریې: یه سیدو ګیه! پا څه! په هلکا نو سبا ناری نا وخته کیږی! دوی ځی کارلر ی.

(سید و بیا کښینی غز و نی کو ی بیر ته پر یوځی).

نوروز: موري زرشه زه بیاغیر حاضریږم مزدوری می سوزی .....

ګلاپ: هوا دی جانې نن زمونږ سبقو نه هم سخت دی امتیانو نه مونژ دې دی. ز ر شه

موریې: څنګه و کړ و ا و س که هغه ځوانیمر ګ ویښ شی.

(له لری نه دساز غږ راځی ساز ډیر په جوش کښې دی)

(مخا مخ کو څه کښې خلك وا ر په و ار تیریږی راتیریږی چادقولبی غوایان مخکښې کړی اودقولبی سامان یې په اوږه دی دیو یوه پایڅه پورته بله ښکته بیل په اوږه - یو در یشی کړی بل په دریشی کښې له بایسکل سره یوه نیمه ښځه دسرې ټو کرۍ په سر تیریږی.)

(بز ګران ماموران - مزدوران - مکتبیان نارینه - ښځی غټ - واړه تیریږی)

مور: پاڅه کنه داڅنګه خوب دی؟

سیدو - پاڅی - ستر ګی مښی - غزونی کوی د سا زغز ته غو ږ و نه بو څو ی دروپ بیر ته لویږی اوڅادر په ځان کش کړی.)

(دسندرغاړی غږ:

سحرسبادی خلك ټول کار و له ځینه
لالا ز نګیږ ی خو ب یې و ړ ینه)

مور - بچیا و! وخت ناوخته د ی - هغه چه پاڅید و بیا به زار زقو موخور ی.

(دسندرغاړی غږ:

په شو ګیرو چه خوا ر ما نده شی
نو تر غر می پو ر ی ویده شـی
ز ما پرې څه که نر کټی وز یږ وینه
لالا ز نګیږ ی خو ب یې و ړ ینه)

ګلاپ - هو! موري مونږ ته یې راوړه - لا لا می بیګا سیل ته تلی و - شو ګیری یې کړ ی د ه. خدای زد چه کله به پاڅیږی .....

نوروز - هغه به ترغرمې ویده وی بیا به تیارې شکرۍ ته ناست وی په کور کښې به تو ده ډوډۍ وهی. مونږ به خواری مز دور ی کوو په بازاری ډوډۍ سات تیر کړو - (لږه په تندۍ) اودانه شرمیږی چه مفته ډوډۍ خور ی.

مور - (ددلاساینی په لهجه) خیر دی بچو یو یې ګټی سل یې څتی زه به سباناری را و ړم (ځی سباناری پسې)

نوروز - آخر به څنګه شی؟ نه دکور سو دا ورسره ده - نه مونځ اودس پیژنی نه دکار اوغریبی نه خبردی - بس یو چرس پیژنی او بل سیل.

ګلاپ-لالامې خوب او خوراك هم پیژنی.

(دسندر غاړی غږ:

نې دډو ډ ی غم و سودا ده
نه یې د دین نه د دنیا ده
چر سو نیشه کښې ټول کارونه هیروینه
لا لا ز نګیږ ی خو ب یې و ړ ینه)

نوروز-آخر به څنګه شی؟-نه د کورسو دا ورسره ده نه دمړی ژوند ی غم کوی- نه وا یی چه مونږ په مخکښې ودونه لرو- په دې زما نه کښې یو واده دغریب سړی کور ورانوی - که مرګ راشی نومړ ی به په څه خښ کړ و که مونږ مړه شوو خودا بیغیر ته د ګازری غوندې بم خښ کړ ی خو که د ی مړ شی مو نږ به داسیالی له کومه کړو؟ .

(لالۍ او مور یې سباناری راوړی - لالۍ دسترخان غوروی مور یې دشړمبو کاسه ږ دی ټول را ټولیږی او په خوراك پیل کو ی.)

(دسندر غاړی غږ :

دی لږه نه خوری ډ یر ه نشته
وا یی دو لږ ی و یر ه نشته
پاس دموری نه خدای ډوډی را غورځوینه
لالا زنګیږ ی خـو ب یـی و ړ ینـه)

سیدو کښینی - غزونی کوی - ستر ګی مښی دسازغږ ته غوږ و نه بوځوی- په کلا نکاری پاڅی وایی) :

-لالۍ جانې کوزه ر ا کړ ه .

(لالۍ کوزه ور کوی -بیرته کښینی- سیدو مخ وینځی وایی) :

سیدو-ماتم څه شی پریښی ؟؟

مو ر-هو! نیمه ډوډ ی پا ته د ه ستا بر خه دشړمبو سره . . . .

سیدو- (په مخ او به وهی)مور ې ولا ډ یر بیخو به یم که راته یو شیرچای را کی چرت به مې ساز شی .

مور- هن شیر چای -که پراټی ورسره و ی څنګه ؟

(لږه په تندۍ) دا خو نه وایې چه مور مې غریبه ټوله ورځ غوا پیایی و رو نه مې خپل کار پسی ځی زم خو یوه و ر ځ دې خپلی غواته یو پنډوا ښه راو ړ م.

سیدو- (په کشاله او متاثره لهجه) چه نې ر ا کوې مې را کوه (لږجدی)زه شو مړو سره ډوډی خو ړی نه شم .

نوروز-(په استهزا)ډیره نشته او د ی لږ ه نه خوری !

سیدو-(په قار) ستایې په څه تی زرزر تاووه (دنوروز دخوراك پیښی کوی)دځا ن غم و که چه ډنګر نه شې !

نوروز -زه خوهم د ځان غم کوم او هم ستا-خو ته لږ فکر وکړه یو کار رو ز ګا ر؟!

سیدو-(د نور و ز پیښی کو ی) یو کار روزګا ر !!

(لږجدی) څه کارر وز ګا ر ؟؟

نوروز-(دسیدو پیښی کوی) څه کار روز ګار؟؟

(ډیر جدی) دا مو نږ څه کو و؟

سیدو-(دنوروز پیښی کوی) دامو نږ څه کوو؟

(بیا جد ی او استهزا آ میزه) تاسو باند ی خوخدای راوستې — زه خو دا سې کارونه ته شم کولی :

نوروز-(په قار او استهزا) شیرچای خوغوښتی شی؟؟

سیدو - (دنو وز پیښی کوی) شیرچا ی خو غوښتی شی ؟؟

(بیا ورو په حسابی غږ) ستا یی په څه؟ ماخومې دمور نه غوښتی (غږلوړوی)تا ته زوردر کوی :

نوروز — (جدی) خودماته زور را کوی ته یاسیل کوې یااوده کیږی ماپه ځان شپه ورځ یوه کړی ده مزدوری کوم- بیا زمایی په څه ؟؟

سیدو- داسې مزدوری خو ولا که کولی شم دورځی په لسو دو اسور وپو ولا که د و مر ه کړاو په ځان تیر ولی شم .

نوروز-په یودفتر کښې خوپیاد ګی کوه کنه!!

سیدو-هو؟ سره به یې په یوه ټنګه نه ارزی زه به ورته ټنډ ی پك ولاړ اوسم- څه ده چه دمیاشتی په اخره کښې اته شلی روپۍ را کوی...

نوروز- اوس دې ګټه څومره ده ؟؟

سیدو- که ګټه نه لرم خدای خومهربان دی که خدای مهربان شو (آسمان ته ګوری) بیانو:::

نوروز — زه وایم چه ډیره نشته او لږ ه نه خوری .

سیدو-هو کنه-خدای روزی رسان دی .

نوروز - خدای هیچاته دموری نه ډوډ ی نه غورځوی .

شاهین -(په کوڅه کښې تیریږی غږ کوی)

نوروزه - څه چه ځوچه حاضری تیریږی:

(دسندرغاړی غږ:)

اد کی مو رې لږتلوا ر که

سبانا ری و رته تیارکه

که په غوسه شو بیا کاسه چه په کوینه

لالازنګیږی :::

(ریدی د ګلاب مکتبی انډ یوال د کوڅې نه ورته غږ کوی - هغه خپل سامان اخلی روانیږی- دروانیدو په وخت کښې وایی:)

ادې- لالا ته مې زرسبا ناری ور کړه چه پرون یې هم کاسه واړوله.

(دسید و مخ پرې مینځل شوی ناست دی موریې نیمه ډوډی دشړومبوسره ورته زدی).

سیدو- مال ما ته شیرچای و که !

مور- (په نرمی سره) زویه ! - هره ورځ شیرچای خوری خیرد ی که نن یې شړومبو سره وخوری :

سید و — (په قهراوعصبیت) خیر نه شر (کنځلی) زه ...لکه ... چه ستا میری زی یم

اوس ځامن دې ووتل په خدای چه سردرباندی مات کړم ...

مور- (په قهراو کشاله لهجه) خدای دې ځوانیمرګ که.

سیدو- (په قهراو تندۍ) خدای دی تاځوانیمرګه کی.. خدای دی پلار په قبر کښې ځوانیمرګ کی...

مور- (زهرخندسره) لیونتوب درباندې اثر کړی دی ...

سیدو- (په قهراو تندۍ) دلیونی اورې...

(دشړمبوکاسه په مورولی)

(دسندر غاړی غبز-

دغواخوسی نورو کارونو

دلواولوراودغو بلو نو

هغه شرمیږی ځکه ځان ترې پټوینه

لالا ز نـګـیـبـز ی ...)

(سیدو بدبد ګورې — موریې دکاسې ټوټه لاس کښې نیولی ...)

(دهمسایه ښځه، دغندل مور راځی- وارخطا وایی)

بیاځه چل دی هره ورځ ستاسوداحال دی

دسیدومور- خدای مې دې په سیدو باندې بوره کړی ؟

سیدو — خدای مې دې تانه خلاص کړی ؟

دسیدومور — (دغندل مورته) کار نشته- روز ګار نشته — دغوا اوخوسی نه خبرنه دی - په لو اولورشرمیږ ی — بی غیرتی په سراخستی — ښه کالی اوښه ډوډۍ غواړی اوکارته بلاوهلی دی ... خدای مې دی په سیدو بوره کړی ...)

دغندل مور — خیردی ښیرامه کوه.

(په کوڅه کښې غندل تیریږی — دروازې نه غبز کوی)

سیدو ګیه — وه سیدو ګیه !

سیدو- غندلیه! — ته یې؟؟

غندل- سیل ښه لګیدلی دی- دزړه ورخان دزوی واده دی- عجب ښایسته هلکان راغلی دی- هغه (دښی لاس ګوته دګین لاس په اورغوی دچرس دپخولو په صورت مښی) می هم پیدا کړی ځانونه به ورته نیشه کړو.

سیدو — یه دنربچیه په پیردی رحمت- دچلم درک چه شوی دی. غټ کار دې کړی دی زه خوړونداوکوڼ وم ؟

(سیدووځی- غندل سره لاس په لاس روانیږی)

(دسندرغاړی غبز —

لالاناړام دی نه سمیږی

زور د هیچاپری نه رسیږی

نصرافغان ئی په کوتکو سموینه

لالازنګیږی ...)

دو همه نندار ه

دزړه ور خان دزوی واده

نوی اشخاص:

ملك ګل مست

فقیر سوداګر

الو

زړه ورخان

یوه ډله سازنده

نور میلمانه او کور بانه

ځای:

یوه اطرافی دیره چا رچاپیره ګټوزه دپا سه پری تو شکونه منځ کښې تغرغوړولی او سندرغاړی مجلس کوی.

(میلمانه او عام نندارچیان یو یو راځی — زړه ور خان یې هر کلی کوی دهغه سړی خلکو ته چلم ور کوی — سازنده سندرې وایی — په دوی کښې یو ټو کمارهم وی — ګلالی او میا ګل سندر غاړی په ولاړه سندرې وایی ګلالی د سندر غاړو مشر او پوخ ځوان دی باجه یی په غاړه ده — میا ګل مراهق او ښایسته هلک دی — تش لاس سندری وایی او چکچکی کوی — په یو کټ باندې (الو) په فیشنی کالو کښې یو اځی ناست دی —

سید و او غندل لاس په لاس ننوځی — دوی ته ځینې نندارچیان د کټ ست کوی — دوی د (الو) څنګ ته کښېنې)

(ددی کټ سره مخامخ ملک ګل مست او فقیر سوداګر په فیشنی او کاکه وضعه تمانچی تر څنګ په یو بل کټ باندې ناست دی پخپل وار سګرټ هم څکی)

سید و — (د کښیناستو په وخت کښې) ډیر وخت وشو چه الوجان ملګری می نه دی لیدلی له ده سره په کښینم)

(په سندرو کښې ګلالی اجتماعی او تنقیدی مطالب وایی ځینې موقر میلمانه شابسی ور کوی — ملک ګل مست دوی ته څه نه وایی خو د سید و د کټ نه کله کله د اسې غبز و نه کیږی)

سم مجلس کوه — داڅه چټیاټ وایې داڅه وایی — ؟

داڅه بد کوې؟ دې هلکی ته وارور کړه

(میا ګل چه سندرې وایی دهغه شعرونه عشقی وی نو سیدو او ګل مست له خوانه په شا بسی او واه واه یی هر کلی کیږی — دده ښایست — ښه غبز او محرک حرکات د ټولو توجه جلبوی خو نور میلمانه متانت له لاسه نه ور ګوی.)

(میا ګل ته نندار چیان لوټونه ور کوی — په دې کښې د سید و او ملک ګل مست تر منځ رقابت پیدا کیږی — وار په وار هلک دواړو ته ور ځی — څو چه ګل مست ور ته د لوټو لو امیل جوړ وی او په غاړه کښې یې و اچوی سید و سره بیسې خلاصیږی هلک ور ته نه ورځې — او ملک ګل مست ته ډیر ورځی سید و له (الو) سره غلی مذاکره شروع کوی)

سیدو:- الوجانه! ستا دغه انډیوالی به چیرته په کار شی ؟؟

دادې وخت دی.

الو — څنګه ؟

سیدو- ګوره وروره ګله — دخدای په لحاظ د پیغمبر په خاطر — زما دې سپیرو شونډو ته وګوره — مامه خړوه — سل روبی راکه.

الو — څنګه یې در کم؟ — زما یو تسل.

زما خو یو تسل په کار دی.

سیدو-ستاتسل کوم-دغه غندل می ضامن دي.

غندل — هو زه یی ضامن یم :

الو — پیسی به کله ..... ؟

سیدو — سل روپۍ را کړه — د سیل نه چه پاڅیدو سمدستی کور ته ځو دخپلی مور غوږ والی چه زما پلار دارزانی په وخت کښې په دوه سوه افغانی اخستی در به کم — که تر دوو ورځو پوری دوه سوه اوغانی می در کړې ښه که نه هغه ستا .

الو — دوه ورځی خیر — دومره اړدې نه نیسم پنځو ورځو پوری به در ته وګورم — خو غوږ والی به څنګه ؟ ؟

سیدو — چرت مه ورانوه — مورمې غواپوولو ته تلې ده — نوروزمز دوری ته — ګلاب اولالی مکتب ته- کور کښې هیڅوك نشته.

الو —ښه —سل په لالی پوردایوه یی دبنګړو.

(سل ګون لوټ ور کوی) خو ګوره چه بی لو زه نه شی ؟

سیدو-څومره دې زده دی-دنارینه ویوه خبره ده.

(سیدو میاګل غواړې — دهغه په ذریعه سل ګون ما توی — د لوټونو امیل جوړوی — میاګل غواړی او په غاړه کښی یې و راچوی یوه ښه شیبه یی ځانته دوری - میاګل ځی . . .)

سیدو - اوس که اسمان لو یېږی ودی لو یېږی زمونږ سیالی برابره شوه الودې ژوندی وی - له ملکانو او سوداګرو سره یی برابر کړو .

(داځل ملك ګل مست په یوه ښه لالپوری خولۍ باندی دلوټونو کتارونه جوړوی - میاګل ته یی ور په سروی — میاګل — بیرته میدان ته ځی — سیدو تاوراتاوشی - د ګلالی دغزل نوبت راځی - سیدو هغه ته ځان په قاروی وا یی)

سیدو - داڅه وایی؟ دا څه بد کوې؟ تا سی وړیا راغلی یاست چه سم مجلس نه کوی..؟

(ګلالی یوه اوږده اجتماعی او انتقادی چاربیته شروع کوی نوروته خوند ور کوی خو سید وتاوراتاو شی بالاخره په کټ باندی اوږدو غځیږی - الواوغندل ته وایی)

سیدو - مونږ راغلو چه سات موتیر شی - دا څنګه مجلس دی-زمونږ ماغزه یی وخوړل؟؟

الو-هو والله چه ترې لاړ شو وښه به وی -

(سید وپا څیږی- دغندل له مټه نیسی وایی ځه چه ځو- سیدو - غندل او الو روانیږی ..)

ړزه ورخان - کښینیء ډوډۍ تیاره ده .

سیدو -ډوډۍ به دې هم سازغوندی وی .

غندل - دسید و کولمی به و باسی .

سیدو-چه کولای دې نه شوای نه به دې کولای.

زړه ورخان- زمونږ له لاسه خو همدومره کیده -تورتوتان تاسونه قربان ته بیا پخپل واده کښې جشن جوړ کړه .

سیدو - مونږ ...

الو- (زړه ورخان ته) زه د سید و سره ضروری کار لرم مونږ ځو.

(سید وا والووځی غندل پاته کیږی)

(د ګلالی دچاربیتی دختمیدو سره پرده لویږی)

دریمه ننداره

د چرسیانو تکیه

نوی اشخاص :

شهباز

رفیق

ښا یسته

ګلنور ـ ملنګان

ځای :

د چرسیانو تکیه ـ اخوادې خواد ملنګانو کو تکونه ـ په دیوالو پورې زړ بدلی کچکولونه په یود یوال پوری یو زړ بدلی رباب ـ اخوا ته د چرسو یوغټ چلم ـ په غولی کښې داور بلکه ...

(شهباز ملنګ چرس پخوی داور سره ناست دی)

سید و یو ښه د شنه اتلس کمیس په غاړه - پرتوګ او نور کالی یې زاړه خولۍ خیرنه - پټکی ریښی ریښی - څپلۍ شلیدلې او بند ونه یې خلاص - ننو ځی)

سیدو - السلا مالیکم

شهباز - والیکم په خیر راغلی

رفیق - ښایسته - ګلنور (په یو غبز) والیکم والیکم ستړی مشی سید و ګیه

سید و - سلامت اوسیء - جوړ اوسیء .

ګلنور - سیدو په ښه وخت کښې راور سید شهباز لا لاورته په قارو - خو مونږ . . .

سیدو - تاسی چه وئ زه بیغمه وم - دلالا تسل بم کړی وی ؟؟

شهباز - (زیری باندی لاس تیروی په موسکی خوله) رفیقانو ته دعا کوه کنه .

سید و - کنه دړې وړې وم .

ګلنور - هو نو دنیاد وا سطی ځای دی .

سید و - کور مو و دان .

شهباز - ځوا نیمرګ نه شې .

سید و - لالا چه مونږ هیر نه کړې ؟؟

ګلنور - تاچه هیر کړی مونږ یې کله پریږدو .

سید و - لالا لکه چه په قا ردی ؟؟

شهباز - خدای دې نه کوی .

سید و - دوی څه وایی ؟؟

شهباز - دوی می مالومول .

سید و - دوی مالوم دی رفیقان دی

شهباز - رفیقان نه چه ورونه دی .

سیدو - هو نو - څوك چه دیو چلم له نلګی نه لوګی وباسی هغه ورونه شی .

شهباز - ګلنوریه - رباب واخله

(ګلنور رباب اخلی - سر کوبې - یوه ښه لاره پکښې غبز وی)

رفیق - ګلنوریه ! دادم خان د قیصی غبز ونه د بابا ډیر خوښیږی -

سید و - شابس .

(ګلنور دادم خان د قیصی یو دوه غبز ونه کوی)

ښایسته - سید و ګی د ساز په منجلسو نو کښې ډیر ګرځیدلی که باباته یو قوالی ووایی : : :

شهباز - هلکو - توده کښې سړه مه راولیء .

ښایسته - شابس سید و ګیه .

(سیدو د شهباز له لاسه چرس اخلی - په سرخانه کښې یې اچوی ګلنور ورته اشاره کوی چه وایه - په سرخانه کښې اورږدی شهباز ته یې وړاندې کوی - هغه یې را کاږی - ټوخیږی - هغه چه نیشه شی چلم په پره کښې ګرځی - سید و په ولاړه یوه قوالی وایی - دوی هم څوك پراته او څوك لږ په سد ورسره سرتاووی - په اخره کښې سیدو پخپله چرس وڅکی او نیشه شی)

— پرده لویږی —

څلورمه نداره

نوی اشخاص:

د کار دقواو مدیر-(ګلا پ)

ملنګ

د اداري چپړاسی (ګلو)

سرکاتب

دمر اجعینونه یو تن

ځینی نور مراجعین

د اخبارموزع

ځای:

د کار د قواوو مدیریت.

(دکار دقواومدیر ناست دی - چپړاسی ورته ولاړدی)

(موزع اخبار راوړی -مدیر سکرټ لګوی اخبار خلاصوی- د اجرائیی سر کاتب راځی دوسیه یې ترغیږده - دوسیه دمدیر مخې ته ږدی پخپله کښینی -مدیر اخبار ګوری)

سر کاتب-اخبار کښې څه دی ؟؟

مدیر - دا خلی که خارجی ؟

سر کاتب-مهم خبر به څه وی ؟

مدیر-خبر څه کوې -دچرسو -تریاکو او نورو مخدره موادو په باب کښې یوه ډیره ښه مقاله پکښې ده :

سر کاتب -هو -دغه چټی اومضرشیان باید منع شی ډیر خلك چرسو له کاره ایستلی او ژوندي پریشان کړی دی .

مدیر-سر کاتب صاحبه !زه به یوه قیصه درته وکړم (سوړ اسویلی وباسی -سر کاتب متوجه کیږی)داما سړی و ینی مونږله پلاره یتیمان پاته شوو-زما دوه مشران ورونه او یوه کشره خور اویوه مور مووه -زما مشرورور چرسی بنګی یولټ او لټیره بنیادم دپلار ټول جایداد او هستی بر باد کړه -په کور کښې زماد مور ګاڼې ترې پاتې نه شوې -خو ځله بندی شو سر کاتب صاحبه !-دوروری- کاردی نه کیږی زمونږ ډیرې پیسې والکیدی -څه به دې سر خوږوم وخت تنګ دی . هغه لاړ ملنګ شو اوس ترې خبر نه یم چه چیرته در په در خاوری په سر به ګرځی. که زمونږ خپله خواری اوزیا رایستل نه وای مونږ به بر بادوو.

سرکاتب- ته خوشکر زمونږ مدیر یې بل ورو راو ...

مدیر -زمونږ منځو می درور بی سواده وهغه خواری مزدوری کوله او س یولوی سودا ګردی -خورمې دښځو په شفاخانه کښې دعقلی او عصبی ځانګی ډاکټر ده ...

(اداری ته مراجعین ننوځی -مدیرسات ته ګوری -وایی)

اوس د کار وخت دی-ته ځه- خپلې ادارې ته چه زه ددې غریبانانو کارخلاص کړم.

سرکاتب-زما دوسیه ؟

مدیر-لیږدغو خلکو نه وز کارشم مکتوبونه به دې امضا کړم بیایې درلیږم-(سرکاتب وځی)

(مدیر به کارمصروف دی-یوملنګ کوټك په لاس- کند او کچکول پهغاړه ننوځی).

ملنګ یاالله خیر- سخیا نو !.

دد فتر پیاده -او ځه داد خسیانو ځای نه دی رسمی دوتر دی :

ملنګ- زه خیرغواړم.

پیاده-اوځه- خیر نشته.

ملنګ -تاسو خلکو کښې خیر نشته؟

پیاده -(په قهر) اوځه بې خیره بنیادمه !

(ملنګ تیل وهی)ملنګ- (په مشتعله ځیره) بی خیر . خو تاسو یاست .

پیاده -(ډیر په قهر) بی خیر ه به دی پلا روی او څه ځناوره .

دا خود کان نه دی دوتر د ی .

ملنګ -زه د کان اودوتر څه کوم-زه خیر غو ا ړم -تا سو سر ه ګنې پیسی نشته - تاسو خلکو نه رشوتو نه نه دی اخستی ؟

پیاده -(په ډیر عصبیت)اوځه- ا وځه- او ځه (په دې کش او ګړ پ کښې دمدیر پام ورته وشی).

مد یر- د اځه ها هاده ؟؟

پیاده- د غه بلا ...

ملنګ -بلا به دې پلاروی -زه خیر غو اړ م له سخیانو نه .

مدیر – راځه .

(ملنګ و ړا ندې ځی - مد یر ولا ړ و مرا جعینو ته و ایی تا سو یوه شیبه مهر با نی و کړی-هغوی کښینې) .

مدیر: ښه ملنګه څه وایی؟ مهربانی وکړه

ملنګ:زه سوال کوم دخدای په نامه ته مهربانی وکړه

مدیر: سوال خوخدای حرام کړ ی دی .

ملنګ:اوه،ته هم ملاوختې(په خند ا) .

مدیر: زه ستا دخیر د پاره ملایم ،په ډیر متانت،

ملنګ:(موسکی غوندې) نو خیر را که کنه.

مدیر:(موسکی غوندی)در بې کم ،خوخبرو ته غوږ ونیسه .

ملنګ:(په لا سو نو خپل غو ږ و نه نیسی) دادی و مې نیو ل .

مد یر: سوال خو حرام د ی .

ملنګ : نوو کړم څه ؟

مدیر : کا ر

ملنګ:(په تعجب او استفهام)کا ر کا ر !!!

مدیر:هو، کار .

ملنګ: چه نې ر ا کوې مې ر ا کوه .

مد یر:در کوم یې خوپه ځا ی .

ملنګ:خیر غواړ م .

مد یر: سو ال حرام دی :

ملنګ : رشوت حلا ل دی ؟

مد یر: رشوت حرام دی :

ملنګ: نوته هغه کوې او زه دا .

(پیاده بد بد ګوری، مدیر اشا ره کوې چه مه کو ه)

مد یر: زه کار کو م تنخا اخلم تم کا رو که تنخا و اخله.

(مدیر سګرټ لګوی)

ملنګ:(سګر ټو ته ګو ته نیسی په موسکی و ضعه)د ا کار به څنګه شی.

مد یر – تیم غواړی؟ ؟

منلنګ – ز م عملی یم .

مد یر – چلم شکی ؟ ؟

ملنګ – غټ

مد یر – د چرسو؟؟

ملنګ- هو کنه - یا ر بی - ز ه څه شی ملنګ کړ ی یم ؟ ؟

مد یر - چه ملنګ کړ ی ای می شکه کنه؟؟

ملنګ - (سګر ټو ته ګو ته نیسی) تم دامه څکه کنه؟

مدیر - دا خو زما عمل دی.

ملنګ - هغه زما عمل دی

مدیر - هغه خو تاوان لری

ملنګ - دام تاوان لری.

مدیر - ددې تاوان کم دی.

ملنګ - په هغه د ورځی دوه روپۍ لګیږی او په دې شل

مدیر - هغه وجود ته تاوان لری.

ملنګ - زړه نه صبریږی.

مدیر - تم راشه زړه وکړه.

ملنګ - تم زړه وکه.

مدیر - که زې پریدم تی پریدې؟؟

ملنګ - ناچار.

مدیر - (سوی سګرټ غورزوی) را که لاس زه به سګرټ پریدم ته به چرس

ملنګ - «لاس ورکوی» زه به سرګټ پریدم ته به چرس.

مدیر - ته داسې مه وایه

ملنګ - نو تې ولی وایې؟

مدیر - زه خو وایم زه به سګرټ پریدم ته به چرس.

ملنګ - خوزم وایم زه به سرګټ پریدم ته به چرس.

مدیر ته خو د چرسو عملی یې!!

ملنګ - هو کنه.

مدیر - نو ته دخپل عمل نه توبه وباسه.

ملنګ - نو ته د خپل عمل نه توبه وباسه

مدیر - زما دې توبه وی

ملنګ - زما دیم توبه وی

مدیر - نو د میاشتی درې سوه او غانۍ به در کم - ته به مونږ سره کار وکړې؟

ملنګ - زما اوستا یارانه شوه چه له ځانه می بیل نه کړې.

مدیر - ځان سره به دې دد و تر چپړاسی کړم

(ګلو پخوانی چپړاسی بد بدګوری)

مدیر - «ګلو ته» د محاسبی سرکاتب راوغواړه

(ګلو ځی - سرکاتب راولی)

سرکاتب - السلام علیکم:

مدیر - وعلیکم - سرکاتب صاحبه - دا سړی درسره بوزه زما د دفتر په چپړاسی توب - او ګلو چپړاسی دکار دقواو په نګرانی مقرردی - قراردادونه بی زرولیکه او رابی وړه.

(ملنګ، ګلو او سرکاتب وځی)

ګلو - (دوتلو په حال کښی) مدیر صاحب برقرار اوسی - ګل وګلزار.

د مراجعینو یوتن چه ثقه قواره لری - ګلو ډیر وفادار - خدمتګار اولایق سړی و - په نګرانۍ کښی به یی ګزاره وشی. تنخایی ښه ده خیر یوسی - خودې بل لیونی سره به څه وکړې؟

مدیر - ګلو چه اول راغی تردې زیات لیونی و د خلکو په تربیت کښی چه مونږ مامورین ځانونه یو څه پازاب نه کړو کار نه کیږی - اجتماعی اصلاحات دومره اسان هم نه دی چه خود په خوده وشی. شل کاله کیږې چه زه سګرټ څکوم

محض ددی دپاره چه یو لیونی په سدشی او دجامعی یو بیکاره غړي په کار واچوم ما پریښود.

سړی — ته هم دسګر ټوله شره خلاص شوی؟؟

مدیر — دازما دخیرخواهی برکت و — که نه ځان ته می هیڅ پام نه و چه دسګر ټوله درکه زه په تاوان کښی یم — څوك چه نورو ته خیر غواړی ضرور هم ده ته هم خیر رسیږی — داد هر انسان وجدانی وظیفه ده چه خپلو ورونو سره مرسته وکړی - سر بیره پردې زه د دولت په څوکی ناست یم باید د دولت مرام مخکښې بوزم - دولت کوښښ کوی چه وزګارو خلکو ته کارور کړی او په جامعه کښې د فساد مخه ونیسی په دی سیمه کښې دا وظیفه زما په غاړه ده ..

(دمحاسبی سر کاتب - ملنګ او ګلو ننوځی)

(سر کاتب قرار دادونه دمدیر مخې ته ږدی مدیر یو قرار داد جګوی او ورو ورو یې په لوستو پیل کوی)

مدیر - (قرارداد لولی) د کار دقواودلسم یونټ لوی مدیریت له سیدو - د سیدا جان زوی - دبشیر خان له نوسی سره قرار داد کوی ..

(مدیر په چرت کښې شی - کاغذ ته ګوری - بیا ملنګ ته ګوری بیا کاغذ ته ګوری - بیا ملنګ ته ګوری ..)

مدیر — (ملنګ ته) سیدو دسیدا جان زوی د بشیر خان نوسی ته یې!

ملنګ - هو - کربان دې شم

مدیر - ستا نور ورونه شته؟

ملنګ - هو جاردې شم دوه ورونه لرم خو په نشت یې حساب که ځکه چه زمونږ بیچارګانو هیڅ غم نه خوری - زمونږ څه پوښتنه نه کوی.

مدیر - دغه دی ما خوستا غم وخوړ.

ملنګ - لوی الله دې له غمه ساته - هم داته مې ورور یې چه زمونږ ....

مدیر - ستا خپل ورونه څه نومیږی! او څه کار کوی؟

ملنګ - یو یې نور وز نومیږی — لوی سوداګر دی - په کابل کښې اوسی سوداګری کوی - خو ما سره یې روغه نه ده - بل ګلاپ نومیږی

(ژړه غونی شی) هغه چه فاکولتې ته تلی دی بیا مې نه دی لیدلی - ځکه چه بیا خارج ته د تالیم پسې تلی و - مونږ هم دې چرسو در په در خاورې په سر کړی یو - والله که خبر یم چه ګلاپ جان به چیر ته وی دې چرسو سړی توب نه لیستلی یو - تر اوسه مې ځان نه پیژندو خدای پاك دی له تا سره ښه وکړی له دې بلا نه دی خلاص کړم اوس به ستا په سیوری کښې کر ځو .. ګوندې چیرې ستا په برکت په ګلاب جان پیښ شو و (ژړه غونی) د ګلاپ جان (ډیر ژړه غونی) څیره مې په زړه کښې ګر ځی.

مدیر : سیدو لالا ګلاپ خوزه یم.

(سیدو غیږ برانیځی مدیر یی مخی ته پاڅیږی)

پرده لویږی. (ختم)

قیام الدین خادم

دنبوغ مخالفت

دنبوغ دافراطی معتقدینو او طرفدارانو څخه یو مشهور انګلیس ادیب «کارلائل» دی. کارلائل دقهرمان پرستۍ جدی مبلغ دی ـ او په دې باب یې کتاب لیکلی دی چه په هغه کښې یې نوابغ په شپږ ډلو ویشلي ـ او په هره ډله یې بیل بیل بحث کړی دی. کارلائل دافلاطون غوندې جامعه په ډلو ویشلی ده ـ خو افلاطون جامعه درې ډلې فلاسفه ـ عسکر او کاسبان ګڼی ـ مګر دی وایی چه جامعه فقط له دوه ډلو څخه جوړه ده چه یوه یې پوهان فلاسفه او حکماء دی او بله یې توده ـ وګړی او عوام دی. دده په عقیده لار ښوونه او مخکښې تګ دنوابغو حق دی ـ ځکه دی وایی چه نبوغ یوه عطیه ده چه دخدای له خوا همدوی ته شویده نو که څوک یې نه منی ـ نو ګویا دقدرت دیو مسلم قانون څخه مخالفت کوی او مثال یې داسې وی لکه څوک چه دفولاد دو پرځای دلرګی نه کار واخلی ـ یا دمرغلرو په عوض مشکنی ولګوی. دی وایی دخدای دمعرفت لار په یوازې سر، بې د کامل عارف له لار ښوونې څخه نشی کیدای ـ نو لار ښوونکی او استاذی ته اړه پیدا کیږی او د کارلائل په ژبه دغه لار ښوونکی قهرمان یا نابغه دی. دی وایی چه تاریخ بل هیڅ شی نه دی ـ بې د نوابغو د کارنامو له یادڅخه او همدا رنګه وایی چه دا نوابغ دی چه دتاریخ مجرا اړوی او بس.

شك نشته چه د کارلائل ددغسې استدلال سره ننني ځینی فکری مکتبونه تر ډیره حده جګړه کوی ـ مګر نبوغ او په جامعه کښې دنابغه دځر ګندرول او اغیزې څخه قطعاً انکار نه شی کیدای. که څوك غرو ینی او مخامخ پرې و رځی او وایی چه غر نشته نو نتیجه به یې څه وی؟ ـ د سړی سر به په تړ و ولګیږی ـ لیکن غر خو د چا په انکار سره له منځه نه ځی. بنا یی چه د کارلائل استدلال له سخافته خالی نه وی ـ خو دنبوغ مسئله به خپل قوت سره پرځای پاته کیږی. ددې دپاره چه په دې موضوع کښې دشکونو سلسله له بیخه وایستل شی مناسبه به وی چه ددغسې مخالفو آراوو په باب دیوې مفصلې مقالې اقتباسات ترجمه او ر انقل کړو ـ اوورو سته ورنه نتیجه واخلو دغه مقاله دښاغلی علی دشتی(۱) په قلم په «سایه» کښې نشرشویده. غوږ کښیږ دی:

«اکثره خلك ګومان کوی چه نوابغ به خپل محیط استیلا کوی. او د تاریخ مجرا بدلوی. داجتماعی محیط و نولوی تبدلات او عظیم

(۱) علی دشتی دایران معاصر لیکوال دی.

تطورات دیو څو افراد و ارادی معلول دی ده خپل اجتماعی افکار پر دغه ټکی متمرکز کړی دی . دده په نزد تاریخ د یو څو کسانو د اخلاقی ـ سیاسی او اجتماعی فعالیتونو او د دوی دژوند له کارنامو څخه عبارت دی .

د اعقیده لوی مخالفین هم لری د اخلك عقیده لری چه نوابغ دخپل لیاقت د اندازې نه زیات مشهور شوی دی . نوابغ مخکښې تر هر څه دخپل محیط پیداوار ـ دخپلی زمانې داړتیا و او تقاضاګانو زیږند او دخپلو پلرونو او نیکونو تابع دی ـ او په محیط کښې تاثیر نه لری . بلکه اجتماعی محیط ـ دنیکونو توارث ـ او ملی استعداد په دوی باندې اغیزه لری . دوی دخپلې جامعې له عنعناتو او سوابقو څخه استفاده کوی . او په حقیقت کښې دخپلې زمانې داستعداد او غوښتنو ممثل دی . »

«ددې دپاره چه قضیه واضحه شی او په مسئله باندې قضاوت اسان شی لومړی باید په دې ځان پوه کړو چه نابغه یاژنې کوم قسم سړی ته ویل کیدای شی . معمولاً خلك هغه چاته نابغه وایی چه سیاست او اجتماع له پلوه څرګند وی او دتاریخی قضایاو بنیاد یې ایښی وی . نوله دغه جهته څو مره چه دناپلیون ـ سکندر ـ او ژول سزار نوم دخلکو په خوله جاری دی ـ او خلك یې په تحسین او تعجب یادوی هغو مره د کوپرنیك ، ګالیله ـ واټ ـ نیوټن ـ ډاروین ـ ارشمیدس نوم نه اخلی . حال دا چه یوازی فاتحین نوابغ نه دی . بلکه هر څوك چه دخپل عصر او زمانې په خلکو کښې د قوت او فعالیت تر نورو ښه ثبوت ورکړی ـ هغه نابغه دی ـ هو قوت او امتیاز چه دژوند په هره خوا کښې وی .

«مثلاً د هر چا دماغی قوتونه چه دخپلی جامعې دوسطی حدنه زیات وی دی نابغه دی یا مثلاً دهر چا چه اخلاقی او روحی قوتونه په داسې اندازه وی چه نور خلك تر خپل نفوذ لاندی راولی او د ځان تابع یی کړی نابغه حسابیږی د دې د پاره چه مسئله ښه وڅیړونو ښایی چه ددغو درې ډلو څخه بیل بیل بحث وکړو :

«نوابغ په درې قسمه دی: بدنی ـ عقلی او سیاسی

(۱) بدنی نوابغ د اخلك هغه وخت زیات وو چه د انسان عقل او ادراکاتو پوره تکامل او نمو ـ نه وه کړې او دانسان تفوق پر انسان یوازی دبدنی قوت او پهلوانی پر بنا منل کیدی شو ـ نو دغسې نوابغ او پهلوانان به پیدا کیدل دا روغه ده چه نن هم دغسی پهلوانان او دقوت خاوندان شته او پیدا کیږی چه تر نورو په دغه خوا کښې زیات امتیاز او برجستګی لری . خود اجتماع له پلوه هیڅ قیمت نه لری ځکه چه دتمدن مخکښې والی ـ دقوانینو او نظام استحکام ـ دجنګ دتجهیزاتو او وسلو دډیریدو او دتخنیك ـ دبروز له کبله دغسې

خلکو ته په جامعه کښې مقام پاتې نه شو. هو- په تیر و اعصارو کښې چه ور ته حاجت ونو بدنی قوت دسیادت او زمامداری لویه ذریعه و ه .

«(۲-) عقلی نوابغ:

ددې عنوان په احاطه کښې د الاندی کسان راځی: مختر عین -مکتشفین-شعرا فلاسفه - او متبحر عالمان. حقیقی نوابغ همدغه کسان دی. ځکه چه دوی د عقل او ادراك په قوت په نورو تفوق لری دوی ښه فکر کولای شی او دمسائلو دحل لاری په ښه توګه میندلای شی. د دوی استنتاج دجهان په معماګانو او حوادثو کښې حقیقت ته نژدې دی.

که موږ فکر و کړو چه څه ډول اشخاص په محیط کښې مؤثر واقع کیږی یعنی دمدنی تطور او تحول سبب ګرزی -نو هغه همدوی دی ځکه چه یوا کتشاف دیوې نوې مبدې اثبات او یوه اساسی اختراع دملتونو دتفکر طرز دهغوی دمعیشت ډول او په غیرمستقیم صورت د دنیا دسیاسی او اجتماعی ژوند جریان په بله خوا اړوی مثلا دبخار دماشین اختراع وه چه کارخانې عمله او مزدوران صنعتی دولتونه اجرت اود کار ساعتونه او سوسیالزم ورڅخه منځ ته راغی و یل کیدای شی چه جیمزواټ د مدنیت په تطور اود محیط په تغیر کښې دکرو مو یل څخه زیات مؤثرو ډاروین د خپلی ارتقائی فلسفې په ذریعه دتاریخ لیکلو اسلوب داجتماعی مسائلو دحل لار - داخلاقو مبادی اودنظری فلسفی اساس په بل مخ واړاوه. دغه فلسفه وه چه دانسان پخوانی عقایداو دژوند په باب دهغه دتلقی طرز بې تبدیل کړ. نیوتن دجاذبې د کشف په واسطه د طبیعت له نوامیسو دپیژند ګلوی دپاره لویه لار پیدا کړه اګرچه د مخترعینو او فلاسفه وتاثیر په محیط باندې په یوه اندازه نه دی دچاقوی اود چا ضعیف دی. خو بیا هم په دی ارزی چه داجتماعی تحولاتو او تطوراتو مبدأ وبلل شی. لیکن که ځیرشو نو دامعلومیږی چه دغه کسان بیاهم په مستقل طور عامل او مؤثر نه وو. یعنې داچه ټول افتخار دوی ته نه شی راجع کیدای. که څه هم واټ دبخار ماشین اختراع کړ- لیکن دده نه مخکښې ډیرو خلکو په دې موضوع فکر کړی و- او تجربې یې پرتې وې جیمزواټ ایله دومره و کړل چه هغه ناقصې تجربې یې تکمیل کړې. نو ویلی شو چه داکوم داسې فکر نه وچه یوازی دده په دماغ کښې پیداشوی و- اودده په لاس عمل ته راووت همدارنګه دډاروین نه مخکښې ډیرو حکماو لکه لامارك - لاپلاس او داسی نورو دتکوین په مسئله فکر او استدلال کړی و- او همدارنګه زرګونو اشخاص و به طبیعی علومو کښې لکه دنباتاتو علم- دحیواناتو علم- دځمکې دطبقاتو علم- داعضاو دوظائفو علم- تشریح او ژوندبوهنه

اوداسې نورو کښې ځانونه ستړی کړی وو - او یوه حد ته یې رسولی وو چه ډاروین له هغو څخه استفاده وکړه. نو دغه طبقه خلق په خپله د محیط د مقتضیاتو معلول وو - او د محیط داغیزو په کومك یې وکولی شول چه اختراع او کتشافات وکړی»

«(۳) سیاسی نوابغ :

دلته موږ د مورخینو او ځینې نورو هغو کسانو د تند واو تیز و احساساتی تقریرونو او مبالغه امیز و بیانونو حد ته چه د وی زور لګوی د ځان او بشر د پاره معبودات جوړ کړی رسیږو. لکه چه مخکښې مو وویل له دغو کسانو څخه ځینی عقیده لری چه نوابغ د تاریخ پیدا کوونکی - او د حوادثو او لویو انقلابو نورا وستونکی دی. د وی وایی چه اجتماعی تبدلات او تاریخی تحولات د دوی دارادې په سبب منځ ته راځی. حال دا چه زیات متفکرین دغسې عقیده نلری. د وی وایی سیاسی نوابغ محیط نشی بدلولای. بلکه د وی د هغو تغییراتو سره چه محیط ورته مساعد وی کومك کوی. د دنیا د دغسی نو یو خلکو قدر او قیمت په دې کښې نه دی چه د انقلاب او تحول سبب ګرځیدلی دی. بلکه په دې کښې دی چه د هغسې تغیراتو او حوادثو باعث کیږی چه ډیرې مودې مخکښې ورته زمینه تیاره شوې وی. د دغې اشتباه بنسټ دا شو څیز و نه دی : اوله دا چه سیاسی نوابغ د حوادثو په سر کښې روان وی - نو خلك ګومان کوی چه حوادث د دوی په اراده پیدا شوی دی. مثلا خلك ګومان کوی چه لینن او د ده ملګرو د روسیی لوی انقلاب منځ ته راوست. مګر حقیقت دا دی چه د دغسې انقلاب د پاره دوه پیړۍ مخکښې د تزاریانو فساد او نیمه پیړۍ وړاندې د المان سوسیالستانو او بیا د جنګ فشار - لوږې او د کارګرو بی سروسامانی میدان ښه صاف کړی و - لینن او د ده ملګرو د وخت نه استفاده وکړه. د لینن ټول فکری تفوق په دې کښې نه دی چه انقلاب یې ایجاد کړ - بلکه په دې کښې دی چه د اجتماعی محیط - استعدادونه یې تشخیص کړل او له هغو څخه یې استفاده وکړه. بله دا چه اکثره سیاسی نوابغ د قدرت - د بدبې، تمول او جلال خاوندان وی، او په دغسې وسایلو د خلکو په سترګو پر دې اچوی. بله دا هم ده چه د جامعې د تحسین رګ پیژنی. او په هماغه ځای یې ګوتې ږدی.

یعنی د افراد و د وطن پرستۍ احساسات را پاروی - او د ناپلیون - سکندر او سزار په شان په خپلو فتوحاتو د جامعې غرور او ملی غیرت

په هیجان را و لی او مورخین هم دخپلو صفحاتو دتزئین دپاره پهلو انانوته اړتیالری او دتاریخ قیمتداري پاني هغه ګڼل کیږی چه په هغو کښې دوحشتنا کو جنګو نو بې رحمه مرګونو لویو تباهیو او هجومونو ذکروی هو اسیاسی نو ابغ دیو، لړ طبیعی موا هبو په برکت پرخپل اجتماعی محیط دپاسه دی مثلاً ددوی آرزو ګانی لوړې او پراخه دی کوم کارچه کوی په ثبات او استقامت یې کوی دلوړ نظر، اخلاقی قوت دسرداری میل، شجاعت او فصاحت دا فراد و داخلاقی ارزښت قوه پیژندل دوخت او اړتیا تشخص، دها او زړه سختوالی لنډه داچه یو سرکش بلند پرواز او نه ماتیدو نکی روح په سیاسی نوا بغو کښې لبز او ډیر مشترك لیدل کیږی په دغسې خلکو کښې دتعمق او د اطلاعاتو دوسعت او په علو مو فنونو کښې د تبحر او داحتیاط پرځای حماسی روح ثابت ایمان او دتفوق سره سخته علاقه زیاته لیدل کیږی نو هر کله چه ددغه ډلې خلکو کار د اجتماع سره دی او داسې نه دی لکه عقلی نوابغ چه په یوازې توب کښې فکر کوی غوپی وهی او مرغلری راباسی نو دټولنې په زور باید خپلو مقاصد و نه ورسیږی خو که ټولنه ددغسې خلکو د ظهور او دهغو دتلقیناتو دمنلو دپاره تیاره نه وی یعنې دمحیط پټ استعداد دوی نه وی غوښتی نو ماتیږی او هیڅ نه شی کولای که څه هم دغه خلك د علم او عقل خاوندان وی. دا دا جتماع په نوا میسو کښې یو منلی شوی حقیقت دی چه «دملت دارادې دپاسه بله اراده نشته».

«هیڅ یو حکومت دملت دمعنوی تمایل نه پرته دپاتې کیدو نه وی هر حکومت د ملت په پښوو لاړوی نو ځکه وایو چه سیاسی نوابغ دمحیط دتغیراتو عوامل او حاکمان نه دی. بلکه دمحیط دغوښتنو اجرا کوونکی دی په بل عبارت اجتماعی محیط په دوی کښې مؤثر دی نه چه دوی په محیط کښې تاثیر کوی. مطلب دادی چه سیاسی نوابغ دزمان او مکان تابع وی. د کوموسیاسی نوابغو چه په تاریخ کښې نوم پاتی شوی دی، دا هغه کسان ووچه دغه مواقع یې پیژندل. ددینه پرته داسې زرګونه دفکر او ارادې خاوندان چه لوړ نظر- اخلاقی قوت او پراخه معلومات یې لرل- په هر ملت کښې راغلی او تللی دی- دوی د کوم تغییرا و تحول باعث نه دی ګرځیدلی- نو ځکه تاریخ یې نوم نه دی ثبت کړی او موږ یې نه پیژنو. تل په هر ملت کښې داسې ډیر سړی پیدا کیږی چه دهغوی عقل او ذکاوت د معمولی حد نه پورته وی- دغه قریحی او عقول په دې واسط چه لاره او وسیله و نه مومی ضائع کیږی او له منځه ځی.»

«د انحطاط په زمانه کښې ډیر عقلونه او فکرونه دتملق او چاپلوسۍ د فورمولونو په پیدا کولو پسی ګرزی.»

خلاصه دا چه هرکله دسیاسی نوابغو سرپوکار دخلکو سره دی-اود دوی دمطامعو تخت دخلکو پرا و زدو ایښی دی - نو ځکه دخلکو سره سازش کوی- او د هغو زړونه ځان ته را کاږی اه د غه امله ویلی شو چه سیاسی نوابغ اکثره روح پیژندونکی دی. د نوابغو ددغی ډلې د شهرت لوی سبب همدغه نکته ده که نه نو که پاستور او بونا پارت دواړه په یوه تله کښې واچوو - نو بونا پارت یوشیطان دی چه غیر له شر او فساد نا و وینو تو یو لو څخه یې نورڅه نه دی کړی. مګر په مقابل کښې پاستور لکه درحمت ملا ئکه دخلکو او محتاجانو ددرد الم تکلیف ا و زحمت پر با لښت ولاړ دی او دخلکو خدمت کوی. ولی بیاهم د ناپلیون په مدحه او صفت خلك نه مریږی او دپا ستور نه پرته له یو شومنو ینو څخه نورڅوك خبرهم نه دی نو نتیجه دا شوه چه لومړی خو نو ا بغ یوازی سلا طینو او فا تحینو پور ی منحصر نه دی. دویمه داچه دعلم او معرفت نوابغ له نو رو څخه زیات په خپل اجتماعی محیط کښې مؤثر دی. دریمه داده چه سیاسی نوابغ د خپل محیط تابع دی. ددوی امتیاز او تفوق په دې کښې نه دی چه پر محیط غالب دی بلکه په دې کښې دی چه د خپل محیط مخفی او امر په ښه شان اجرا کولی شی او ورو ستنی خبره داده چه د خپل حق نه زیات مشهور شوی دی.»

زموږ ملاحظات

په نبوغ باندې دعقیدې او عمل د تردید د پاره د دینه زیات قوی دلائل نشته چه په پور ته اقتباس شوی مقاله کښې راوړل شوی دی. بوخوك په دی پوهیدای شی چه دغه دلائل د حقیقت او واقعیت له مخې څومره کمزوری او سخیف دی مګر که دلته د دغسی خبر د تر دید او جواب دپا ره هغه نکتې راغونډې کړو چه د نبوغ دعقیدې او عمل په باب تول کړل شوی اغزی به یووا ر له مخې وبا سی دا به بیځا یه نه وی.

د نبوغ نه مطلق انکار لکه چه مخکښې هم ویل شوی دی په مطلق صورت باطل فکر دی ځکه چه له نبوغه مطلق انکار دارتقا د منل شوی او تثبیت شوی طبیعی قانون سره مخا لفت لر ی. ځکه چه دار تقا اصول دا وایی چه د نبا تاتو او حیواناتو تول افراد او انواع په تدریج سره تغییر او تحول مومی او په دغه تغییرا و تحول کښې مترقی پاتی کیږی او کمزو ر ی ا و منحط له منځه ځی. نوکه د افرا د و ا ستعدا د و نه او صلاحیتو نه سره فرق ونلری نو ارتقا به څنګه ممکنه شی؟ د کائناتو په ټولو موجود اتو کښې فردی تفاوت او په ورو ستې کښې داول نه تکامل او بهتری یوه داسې خبره ده چه نن د نیا و رنه انکار نشی کولای.

هو! دومره ده چه د اعمال د مدوجزر په صورت او پر تدریجی دی. خو په هر صورت نن د د نیا

ټول لوی دماغونه له دې انکار نشی کولای چه دنیامخ په تکامل او ترقی روانه ده نه چه ولاړه او نه مخ په ښکته درومی نو بناپر دغه اساس ښایی چه د افرادوا و کتلو په منځ کښې دې متکامل او مترقی افراد دماغونه او د افکار موجودوی او موجودیدای دې شی دغه ده دنبوغ منبع .

راغلو دتر دید یه مقالی موضوع ته مقاله وایی چه نبوغ په درې قسمه دی :

بدنی، عقلی او سیاسی. وایی چه د بدنی نبوغ وخت تیر شوی دی او نور ورته چانس نشته په عقلی او سیاسی کښې عقلی پر سیاسی د زیات اهمیت وړدی او داد خلکو خبط یاد سیاسیونو چالاکی ده چه ځان په خلکو باندې له خپلې اندازی څخه په زیات حیثیت ومنی .

مقاله کښې د اتکایوه غټه خبره دا هم شته چه . «زیات مفکرین عقیده لری چه سیاسی نوابغ محیط بدلولی نشی بلکه دوی د هغو تغییراتو سره چه محیط ورته مساعدوی کومك کوی» دلته یوه لویه سهوه او خطا چه کومه موجوده ده هغه داده چه عقلی نبوغ په سیاسی نبوغ مخکښې ـ مقدم او مهم ګڼل شوی دی او په سیاسی نبوغ کښې ځینی حریص ـ طامع سفاك او ټیت شخصیتونه داخل ګڼل شوی دی ـ او بیا استدلال شوی دی او که له سره څخه داسی فکرو شی چه بنوغ د تکامل ـ ارتقاء او اصلاح نوم و پیژندل شی ـ نه دانحراف ـ نو په دې صورت کښی کیدی شی چه ډیر ناقص ـ کمزوری منحرف او منحط طبیعتونه چه برا زندګی لری خو کمال نه اساسا دنبوغ له دائرې څخه د باندې وایستل شی . نو په دې وخت کښی ـ به په نبوغ کښی دشیطانانو ـ چالاکانو ـ خپل چارو اولیو نیانو د پاره ځای پاتې نه شی ـ او پاتی مفکرینو صالحو ـ فداکارانو او مهربانو اشخاصو کښی به دفکر او عمل خاوند یوازې دفکر ـ په خاوند څو ځله مخکښی او افضل و ګڼلی شی. مونږ دا منو چه تخنیك او اختراع د دنیا په ترقی کښې ډیره مرسته کړیده . خو له دې هم غفلت په کار نه دې چه که اجتماعی او سیاسی مفکرینو او کارکوونکو په نظام او سیستم کښې تحول او تطور نه وای راوستی ـ نو هیچ یرې به هم نه چا کومه نظریه کشف کړې او په کار ناچوای وای ـ او نه به څه شی اختراع شوی او جوړ شوی وای . په غیر مساعد محیط کښې ټول استعدادونه داسې ضائع کیږی لکه په وچ ډاګ او ښوره نا که مځکه کښې دګلانو تخمونه ـ

موږ خو چه څومره فکر او استقراء کولی شورا معلومیږی ـ چه دوې مفکورې، ائیډیا او نظام تخلیق او اختراع دیو ماشین ـ الی ـ او کوم طبیعی قانون له کشف ـ موندلو او جوړولو نه ډیر مهم ـ مخکښې او د اهمیت وړ کاردی علم ـ فن ـ کسب او هنرتل په هغو

نظامونو کښې وده کړیده چه امن - عدل او تقدیر پکښې موجودو . او نظام جوړول دلویو او متکاملو سیاسیونو کار دی نه د مخترعینو او مکشتفینو- بخار- برق او ایټم او داسې نور خولوی لوی اختراعات دی . اوداهم موږ ولیده چه انسان له دې خاورو څخه پورته شو- له ځمکې په یوساعت او څو دقیقو کښې چاپیره و ګرځید او بیرته هم راکوز شو - اوس دستورو په تکل کښې دی- مګر دا کارونه ډیر مهم دی-- او که هغه نظامونه چه په نتیجه کښې ترې دا اعمال صادر شول زما په نزد- اجتماعی ماشین جوړول ډیر سخت او مهم کار دی - چه دا وشی نو بیا نور کار و نه پخپله کیږی . که نه وی نو نه- پاتی شوه دا خبره چه سیاسی نوابغ محیط بدلولی نشی بلکه دهغو تغییراتو در اوستو سره کومك کوی چه محیط ورته مساعد وی . مونږ به دا ومنو. مګر د محیط د غوښتنې سره سم د تغییر د پاره زمینه تیا رول - او یا مخصوصا په میط کښې د مساعد تغییر د پاره غوښتنه پیدا کول- محیط له بدې غوښتنې څخه دښی غوښتنې په خوا اړول خو هم پخپله نه کیږی . عامل غواړی. نو که رښتیامی پوښتیء دغه عامل یا عوامل هم د نبوغ له انرجی څخه برخه لری مونږ ویلی دی چه نابغه کوم د اسې مخلوق نه دی چه مرګ درد- ژوبله او ناکامی نه لری . بلکه دا وایو چه د فکر- اختراع -ابتکار- عمل - اقدام او تاسیس قوه په نوابغو کښی ی تر نور زیاته پرته ده . او باید چه ترې کار واخستل شی .

دا به هیڅو ک هم و نه وایی چه نوابغ غرچپه کوی یا یی په شا کوی . یا له نشته هرڅه را ایستلی شی .او دا خو راسره زموږ معاصر او ملکری ((علی دشتی)) هم منلی ده چه سیاسی نوابغ د یو اړ طبیعی مواهبو په برکت پر خپل اجتماعی محیط د پاسه دی مثلاً د دوی ارزو ګانی لوړی او پراخه وی د ثبات استقامت خاوندان وی لوړ نظر- اخلاقی قوت- د سرداری میل - شجاعت او فصاحت- دافرادو اخلاقی ارزښت قوه پیژندل د وخت اړ تیا او تشخیص - دها او د زړه سختوالی - لنډه دا چه یو سرکش بلند پرواز او نه ماتیدونکی روح په سیاسی نوابغو کښی لږ او ډیر مشترك لیدل کیږی په دغسی خلکو کښې د تعمق او اطلاعاتو د وسعت او علومو فنونو کښې د تبحر او د احتیاط پرځای حماسې روح - ثابت ایمان او د تفوق سره سخته علاقه لیدل کیږی . دا پورته اعترافات د هغه چا له خوا دی چه له نبوغه منکر دی . مګر په عین انکار کښې اقرار کوی مونږ مخکښې ویلی دی چه نوابغ له محیط

پاڅېږي او د خپل محیط پیدا واردي . خو په محیط باندي اغیزه او تاثیر هم لري او کیدي شي چه د تاریخ مجرا بدله کړي .

د مقالي په خبرو کښې یوه خبره دا هم ده چه « مورخین او ځینې نور کسان زور لګوي او کوشش کوي چه د تندو او تیز وتقریرنو او خطابو په ذریعه د ځان او بشر د پاره معبودات جوړ کړي . » موږ وایو چه د نبوغ او نوابغو مثل او په مقام ورته قائلیدل د هغو پرستش او عبادت نه دي، بلکه دا د انسانیت شرط دي چه عالم - عامل رهبر او راهنما عزت او احترام - اطاعت او منښت وکړي که نه نو جامعه به د ظلم، استبداد، جهالت او ضلالت له پښو لاندي شي - او نجات به ونه مومي

د شرق په آسماني روایاتو کښې پیغمبر لا هم یو سړي ګڼل شوي دي نو نابغه به څنګه معبود کېږي ؟؟ البته د فطري صلاحیتونو څخه انکار کول -- یا رهبر او خدمتګار معبود ګڼل د خلکو د انحطاط او غلامانه ذهنیت علامه ده. او له دې څخه د نجات لاردانه ده چه ملتونو ته په طبیعي او قدرتي صلاحیتونو او استعدادونو باندي د کفر او انکار تبلیغ وکړي شي چه څو په ټولو عالي مبادیو ناباوره او بي ایمانه شي -- او تودې ته دغونډید و او ټولید وهیڅ څلي پاتي نه شي .

او د بې شپانه رمي په شان به یي لیوان وخوري . دلیډر - لارښوونکي او رهبر د اطاعت غزیزه یوازي د انسان خاصه نه ده . بلکه په کبانو - مرغانو - زانو او تقریباً ټولو ژوېو کښې لیدل کیږي. البته په دې ټولو مواقعو کښې صلاحیتدار او متکامل تر نورو مخکښې کیږي او د نورو قیادت کوي . نو دا خو تعبد او استعباد نه دي .

هو! — که څوك د آزادي په نامه انسان د ټولو حیواناتو څخه کښته درجي ته راکاږي — نو لوی ظلم به کوي . د دغسي تبلیغاتو اغیزه ده چه ځیني جوامع ترابده په دام کښې نښتي پاتي دي هو! — یو شي د منلو دي او انکار ترې نه دي په کار — او هغه دا چه د نبوغ په باب افراطي عقاید باید اعتدال ته راوستل شي . دغه به وي په دې موضوع کښې حقیقي فیصله .

چه په مینه کښې حیران دي نه دي ګرم
د آسمان ځمکي تر میان دي نه دي ګرم

که سینه وهي که سر که ژاړي وینې
چه خوږ شوي په هجران دي نه دي ګرم

که په یار پسي څوك بې دین او ایمان شي
یار د یار دین ایمان دي نه ګرم

چه بوسه غواړي له مخه د ګلر خو
که شبنم غوندې ګریان دي نه دي ګرم

حمید بابا

ژواك

راشه

راشه دراز اونیاز خبرې وکړو به پټه پټه د عالم نه ګوښې
د بیدردانو نه ښه لرې لاړ شو هلته - چه زه یمه تنها او ته یې
دزړه رازو نه کړو شریك په ګډه

هلته چه ته د شرمه سره ایسیږې هلته چه ما ځینې جرئت وې تللی
سمه خبره را نه ژړشې ورکه دواك اختیار واکې له لاسه تللی
خوستاپه زړه کښې وې چه لاړه شمه

په زړه کښې ډیر خورانه هیرشې ته وله تلولی وایمه چه «کښینه لږه !»
ما سره ډیرې تلوسې دناستې تا سره هڅه دولاړې او تلو
وارخطا ګډشمه مطلب شې باتې

ځې روانیږې خوزړه کیږې مې نه سودامې داوی «ګوره لاړه نه شې !»
همدغه وې ویلای هیڅ نشمه دلته رقیب شې نا ببره پیدا
نیمه خوا پاتې شې د زړه خبرې

را نه دناستې تلوسه شې باتې تا ته ویلای نه شم «کښینه نوره !»
شې مشغولتیا مې د رقیبه سره پر زړه مې تیرې تر پخوا لاسختې
دغه خواری په نصیبه وې زما

دا خاطره که درسره وې ګرانې نو راشه راشه چه نژدې کړو زړونه
زه به جرئت کړم دویلو «خوله را» عمر ډیرلنډ دی ګوره مړه به شو ژر
چه لیونی مینه نامراده نه شې

ننګیالی خوږیانی

نوې دنیا

خوب کښې ویده شوم بې خبره بلې خواته لاړم په تصور، فکرو حیرت نوې دنیاته لاړم
نوی رازونه ، نوی ژوند ،نوی خیالونه ووهم نوی فکرونه سنجیدل ، دې تماشا ته لاړم
نوی نهضت و پاریدلی ، نوی یون لپاره نوی ساز و نهوو شروع ، نوې نغاته لاړم
وم هك حیران چه داسې رنګ ځنګه دنیا شوه ربه
دا دژوندون څرنګه بیا نوې بنا شوه ربه

☆ ☆ ☆

نوې خبرې، نوی سیل، نوی ګلشن جوړیده نوی رواج، نوی رسوم او نوی فن جوړیده
نوی بازار، نوی مزار، نوی ښار ونه هلته نوی مدفن ، نوی وطن ،نوی چمن جوړیده
نوی رقم ، نوی سامان، نوی دولونه و وړ نوی لباس،نوی وسواس ،نوی فیشن جوړیده
داسې روزګار داسې سنګارد زمانې وهلته
ښکلی کاروان ،ښایسته بازاردزمانې وهلته

☆ ☆ ☆

نوی غزل ، نوی سازونه ، نوی رنګ یادیده نوې ګډا، نوی مجلس،نوی تنګ تنګ یادیده
نوې صحنه وه، نوی رول، نوې ښکلاوه کنه نوی مدم د، نوی ډول او نوی چنګ یادیده
نوی رباب به سرېده ، نوې سندرې جوړې نوې نغمه وه، نوی خوند،نوی آهنګ یادیده
دارنګه کاراو هوسو ته چه نظر کښې شو مه
خدایبزودی رازته زه به سوچ او تفکر کښې شومه

☆ ☆ ☆

تیر شوی هیرو ودسپوزمی اولمرخبر و هلته نوی رقم،نوی تهذیب د زیب ، زیورو هلته
توپ ، اتمونه،راکټونه ، ماشینی ژوندون خاورې دچانه وې به یاد تول سیم اوزرو هلته
ځمکې بل رنګ وغوره کړی پاس هواته تله تول نوې ژوندون، نوی انسان،نوی بشرو هلته
ای (ننګیالیه) دا دژوند پاڼه بل خواته لاړه .
زاړه شوه پاتی دا نړی پورته فضا ته لاړه .

عبدالکریم «محب»

د منزل هڅه

شور اوزوګ دکاروان جګ شود سهار رڼا خپره شوه
پرونی و یجاړ محل کښې جوړه نوې بنده اره شوه
څوک منزل ته نژدې شوی څوک په هڅه د منزل کښې
ځینې چرت د کوچ او بار کښې د چاسترې قافله شوه
رنګینی ده، تازګی ده، پرونۍ سپیره صحرا کښې
د زړو کیږدیو خوا کښې جوړه بلرنګه میله شوه
کاروانیان په مینه مینه د خوښۍ سندرې وایی
نیمه خوا سلګونه جوړه د مستۍ خوږه نغمه شوه
په هوس د تجدد کښې زړې خونې شولې ورانې
د زړې مینې ماحول کښې جوړه نوې نندارې شوه
بزم نوی، محفل نوی، د وخت نوی تقاضا ده
د استانو نه شولو نوی د بدرۍ کسه زړه شوه
په چا تنګه دا دنیا شوه د آسمان په لوری سیر کړی
چار چاپیره هره خوا کښې ګرمه نوې هنګامه شوه
دچاسترګې نه غړیږی ورنه تیر دژوند کاروان دی
نوی عصر، نوی وخت کښې، خیال یې زوړ زوړ یې ارمان دی

☆ ☆ ☆

ځینو لاره ورکه کړې دژوند ون ارته صحرا کښې
ځینې سترګې کاندی پټې د نهضت سپینه رڼا کښې
ځینو دلته محفل تودکړ ځینې هلته وار خطا شو
ځینې مست ځینې خمار دی ځینې ناست د دو هوا کښې
ځینې ګر ځی بې خبره ماجرا نه خبر نه دی
ځینې لاړل بز مستان ته ځینې ناست دی خانقا کښې
ځینې ګوري په حیرت کښې تکلو نو دکاروان ته
ځینې تښتی کومې خوا ته دې رنګینه تماشا کښې

ځینې هسې نا خبره د کاروان دلارې څار کړی
مستانه غوندې نڅیږی د ګینګړیو په غوغا کښې
چاه منزل کښې جوړه کړیء د خوښیء نوی مېله ده
د عشرت سرود غږیږی دا د نوی ژوند د نیا کښې
د ذلت مېنی شوې ورانې د تورتم پردې شوې څیرې
مبارک وایی یو بل ته د ژوندون نوی سبا کښې
نو و نو وارادو کښې خوږ ېدلې هنګامې دی
نوی رمز او نوی راز دی نوی وخت نوې هیلې دی

☆ ☆ ☆

د منزل ربړ ځپلې د ژوند سوچ کړی شو ګیرو کښې
امیدونه ژوندی شوی د سالار د لېږ د نغمو کښې
ځینې ځینې خولا هسې په کېږ دیو کښې پراته دی
سترګې پټې لا او سېږی د سپوږمۍ په پلو شو کښې
شپې او ورځې کاندې تېرې مستقیل نه بې پروا دی
د زړو مړو په ویر دی د ژوندون خوږ وشېبو کښې
د نفرت په نظر ګوری لا رویو د معراج ته
د زاړه هوس په غم دی په دی نو و ورځو شپو کښې
په تیاره کښې لا او سېږی د رڼا نه کوی کرکې
ډیوې سوزی بې قدرۍ کښې لرې لرې هدیرو کښې
لا خو نوم د میخانې ته ځینې ځینې هو سېږی
له ښو بد و بې خبره لا پراته دی په نېشو کښې
نه امید د زندګی کړی نه اجل ته تابع کېږی
لیونی او وار خطا شی د کاروان په غلغلو کښې
کله ژوند ورته نغمه شی کله وهم کله خیال شی
کله کله لېونتوب شی کله عشق کله جمال شی

خالص

زما معشوق

هغه چه زه یې په ګلاب او په نرګس کښې وینم
هغه چه بوی یې له سمځلې و له شببو راځی

هغه چه لین یې په نازك وریښمین اتلس کښې وینم
چه مې وژلو ته په نازاو په نخرو راځی

هغه چه حوری د جنت ور ته هوس کښې وینم
چه سلامی ور ته سپوږمۍ په نیمو شپو راځی

هغه رڼا یې چه خپره تمام ولس کښې وینم
چه ور ته بلې شمعې تل په ژړید وراځی

هغه چه مینه یې د زړو نو په قفس کښې وینم
چه ور ته ګل لکه بو راپه ګډید وراځی

هغه چه مدحه یې رباعی او مخمس کښې وینم
چه شاعران یې احترام ته په لیمو راځی

نه چالیدلې نه وتلې مشغولا لپاره
څښتن «سانلې» ده خالصه هم داستا لپاره

نژند

لیونی زړه

علمونه عالمو نه ور ته نیسم که په خود شی
حاصل د علم و پوهې نه مغروره غوندې ښکاری

آخره شوه معلومه، چه د اولی ډیر خپه دی
احساس د نیك و بد لاندې مستوره غوندې ښکاری

دی وایی کشکی وړند وای چه مې نه لیدای غمونه
دغوږ دا ورید لونه چور چوره غوندې ښکاری

د سل وزرو هو ځینې یوه نه به وی غوره
نژنده! مصلحت دې له انګوره غوندې ښکاری

(دخلورم مخ پاتې)

له بلې خوا لیکی :

« مګر کله چه وروسته د انسان حنجره دمتمایزو غبزونو د ایستلو دپاره مستعده شوه اوهراوا ز ځا نته مخرج پیدا کړ هغه و خت دغه آوازونه دحروفواوالفبا په بڼه ظاهرشول اودمطالبو، افکارو، اومقاصدو د اظهار دپاره کاملتره وسیله منځ ته راغله چه ژبه ګڼل کیږی . »

بیا لیکی :

«یو اړامدادی غبزونه دی چه موږ یې امدادی حروف بولو او دهغو په مرسته اصلی حروف تلفظ کیږی . »

بیا لیکی :

« حلقی حروف هغه دی چه یې دادا په وخت کښې آ و ا زونـه د حلق څخه راوزی.» (۱)

په دې مثالونو کښې ګومان کوم زما هغه خبره پوره صدق کوی چه مې وویل موږ ا کثر « ویږ غبز» او « توری » سره یو ګڼو او ژبه هم د« توری» په اساس مطا لعه کوو. ځکه په پورته مثالونو کښې ګران لوستونکی او چته لیدلای شی چه له یوې خوا پخپله توری دویږ غبز رسم بلل شوی اوله بلې خوا لیکل شوی چه :« آ وازونه دحروفو او الفبا په بڼه ظاهر شول اوژبه‌ترې جوړه شوه. » یاداچه «امدادی غبزونه‌هغه‌دی‌چه موږ یې امدادی‌حروف بولو.» یاداچه ـ « صائت حروف دژبو اساسی غبز ونه دی . »

آ یا څنګه کیدای شی‌چه هم دې «توری» « غبز » شی اوهم د « غبز » رسم ؟ آ یا څنګه کیدای شی‌چه هم دې «توری » دغبز رسم‌شی اوهم‌دې ویږ غبزونه دحروفواو الفبا په بڼه له حنجری‌څخه راووزی‌اوژبه‌دې‌ترې‌جوړه شی؟

ښکاره ده چه دا پـه هیڅ صورت سره هم نه‌شی کیدای. نوله‌دې امله بایدووایوچه دایوه اشتباه ده چه‌تراوسه لاموږ د«توری» او« ویږ غبز» دسره بیلولو اوپوره پیژند لوپـه برخه کښې برې ککړ یو .

دغسې‌هم‌به پورته‌مثالونو کښې ددې‌له‌مخې چه زموږ لیکوال لیکی :

« ځوله ژ بې ځینې صحیح حروف هم اری چه غبزونه یې دصائتوحروفوپه کومك ښکاره کیږی ځینې ژبې مخصوص صائت توری هم اری . »

یادا چه لیکی :

«حلقی‌حروف هغه دی چه یې دادا‌په‌وخت کښې آوازونه دحلق څخه راوزی .»

(۱)ـ په دې خبروکښې‌چه مادلته دمثال‌په توګه راواخستې پرته دلیك اوژبې‌له‌ګډولوڅخه‌نورې دنوې ژب پوهنې‌نه مخالفې‌خبرې هم‌شته چه‌دلته‌یې‌له څیړلو څخه تیریږم .

موږ دا ویلای شوچه تراوسه لادلته د ژبې مطالعه دتوری په اساس کیږی او ګرامریان «وییز غبز» په توری کښې مضمر ګڼی .

د همدغو اشتباهاتو په نتیجه کښې ده چه داملا بدلون دژبې بدلون ګڼل شوی او خلکو دا اعتراضونه کړی دی چه :

«د night پرځای nite لیکل دژبې حیثیت ته صدمه رسوی» یادا چه :

«د Chaud پرځای Shôd لیکل دژبې مقام راټیټوی» یادا چه «خرد — د — خورد — او خرسند دخورسند — په بڼه لیکل دژبې د ګډوډی نتیجه ده .» یادا چه :

«د کښې — او — ځمکه — پرځای — کې او — مځکه — لیکل په ژبه کښې ګډوډی راولی .» اماڅرنګه چه زه پراملاءاو په تیره بیاپښتو املا په جلاډول سره ښې مفصلې خبرې ارم نو له دې امله دلته په دې باره کښې زیات نه غبزیږم بلکه غواړم دلیك او ژبې پرارتباط په اساسی ډول سره ښه رڼا واچوم .ځکه ترڅو پورې چه دا مسأله ښه روڼه نه شی ترهغو پورې داملاءپر څرنګوالی خبرې کول کوم ځای ته نه رسیږی . البته په دې برخه کښې بیاهم کوم شی چه تر هرڅه دمخه باید رامنځ ته شی هغه د «تقریری» او «تحریری» ژبې مسأله ده چه ما دمخه ګڼه کښې یوازې کوته ورته نیولې وه او اوس باید ووایم چه داد «تحریری ژبې» اصطلاح هسې تیرایستونکې اصطلاح ده .مګر له بده مرغه زموږ ځینې پوهیدلی غوندې خلك که کله کله ژبه لیك او لیك ژبه نه بولی نودا اصطلاحات خو بیا په ډیرزغر ده سره استعمالوی چه «تحریری ژبه» او «تقریری ژبه» . لکه داچه زموږ له ګرامریانو څخه یو مشهور ګرامری لیکی :

«ژبه دوه ډوله ده : موږ پوهیږو چه د اصواتو د امتزاج او سره یو ځای کولو څخه صوتی کلمات او دیوشمیر کلماتو دپه کاراچولو څخه دافهام او تفهیم دپاره تقریری ژبه منځ ته راځی .»

«کله که تکلمی ژبه یاپه بله ژبه دغه مرتب اومنسجم اصوات ولیکل شی تحریری ژبه ګڼل کیږی . یعنې کله که موږ خپل افکار دتقریر او تکلم په واسطه څرګند کړو . تقریری ژبه او که دغه کار دلیك په واسطه وشی نو تحریری ژبه ده .»

له پورته لیکنې څخه چه دلته دمثال په ټوګه راواخستل شوه څرګندیږی چه موږ تراوسه هم لاد «تحریری ژبې» او «تقریری ژبې» اصطلاحات په داسې ډول استعمالوو چه ګوندې دا دواړه فقط دیوه داسې شی دوه بیل نومونه دی چه له اره رټ سره یودی .حال داچه خبره داسې نه ده. بلکه تر هر څه نه دمخه باید وویل شی چه «ژبه» په «غبز» او «غوږ» پوری ارتباط لری او «لیك» په «ګوتو» او «سترګو» پورې .

یعنی لیك (مطلب الفبایی لیك دی) داسې یو سیستم دی چه دیولړ تورو یعنی دو ییز غبزونو درسمونو څخه جوړ دی او دارسمونه په ګوتو کښل کیږی او به ستر ګو لیدل کیږی. مګر ژبه په سا ده عبارت سره دیولړ وییز وغبزونو څخه جوړه ده چه د «غبزیز جهاز» په وسیله تولیدیږی او په غوږونو اوریدل کیږی.

دغه ډول کله که موږ خپل ژوندانه ته ځیر شو نو دیر ژر دې حقیقت ته رسیږو چه موږ ژبه ان د کوچنیوالی څخه زده کوو حال دا چه لیك - په دې شرط چه یې زده کړه وغواړو او را ته میسره شی - په ژوندانه کښې وړ وسته د ګړیدا د زده کولو څخه زده کوو.

دغه ډول باید وویل شی چه لیك د ګړیدا له مخې جوړ شوی او اساس یې ګړیدا ده. یعنې «هغه علامی چه موږ یې دلیك په نامه استعمالوو - نو که هیرو غلیف دی که میخی نښی او که توری - اساس یې په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول ګړیدا ده.»

نو له دی امله دنوې ژب پوهنې پوهان ان دکار په لومړی سر کښې «ژبه» او «لیك» سره بیلوی او داسې نه کوی لګه عادی خلك چه دی «ژبه» او «لیك» یو په بل کښې سره داخل کړی او د «تحریری ژبې» او د «تقریری» ژبې په نامه دې هم ځان او هم نور په اشتباهاتو کښې ډوب کړی. نو ځکه یو له دغو پوهانو څخه په دیر صراحت سره وایی چه:

«د تحریری ژبې په نامه کوم شی درك نه لری. بلکه - ژبه - ژبه ده او - لیك - لیك.» دادی دلته زه هم د همدې خبری په اساس وایم چه موږ باید «ژبه» ژبه وبولو او «لیك» لیك. یعنې وروسته له دې د «تحریری ژبې» اصطلاح چه اکثر یوه خطا ایستونکې اصطلاح ده او د ډیر وزیاتو اشتباهاتو سبب ګرځی باید د ژبې د مطالعی په برخه کښې استعمال نه کړو.

بلکه دلیك دپاره خپله د «لیك» اصطلاح استعمال کړو او د ژبې دپاره «ژبه».

ځکه بر سیره پر پورته خبرو کوم تعریف چه یې نني ژب پوهان د ژبې دپاره کوی په هغه کښې «لیك» یا «توری» او یا تحریری ژبې اصطلاح هیڅکله لاره هم نه شی پیدا کولای.

دغه ډول د دې تعریف له مخی نن د «ژبه» اصطلاح پرته له «ګړیدا» څخه یعنې پرته له هغه شی څخه چه موږ ورباندې کړیږو ابدا هم د ژبې د مطالعې په برخه کښې د بل څه دپاره نه شی استعمالیدای (۱).

اما باید وویل شی چه دلیك او ژبې ارتباط سره پر تله کولو خبرې دلته پای ته نه رسیږی بلکه نور هم لا پسې اوږد بحث غواړی چه په راتلونکو ګڼو کښې به یې ښاغلی لوستونکی ولولی. ځکه په دې ګڼه کښې د مقالې نور پسې اوږدول ګومان کوم ګران لوستونکی ستړی کوی او له مقالې څخه رساله جوړیږی.

---

(۱)- «ژبه داختیاري وییزو غبزونو او دغبزونو دلړونو څخه یو جوړ شوی سیستم دی چه دانسانانو دیوه ټولګی له خوا دیو بل سره پوهولو او را پوهولو دپاره ورڅخه کار آخستل شوې وي او یا کیدې شی ورڅخه کار واخستل شی او دانسان دمحیط شیان - پیښی او کړه په پوره او کره ډول سره افاده کړي.»

یادونه :

مابدي مقالو کښې -چه یوه بې دمقد مې په ډول په تیره ګڼه کښې خپره شوه او نورې به یې هم تر همدې عنوان لا ندې پرله پسې خپریږي- به عمومي ډول سره دلاندې کتابونو څخه چه په نړۍ کښې دژب پوهنې ښه کره کتابونه دي، استفاده کړې ده او ګران لوستونکی هم کولای شي چه دزیاتو معلوماتو دپاره ورته مراجعه وکړي . البته کله که ما په کوم ځای کښې دا ډغه کتابونو څخه عین مطلب راا خستی دی هغه مې ښکاره په قوسینو کښې نیولی دی :

1) A Course in Modern Linguistics. By Charles F. Hocket.
The Macmillan Company. New York. (Second printing. 1959)

2) Language. By J. Vendryes. N. Y. Alfred A. Knope reprinting, 1931

3) Language, By Laonard Bloomfield. N. Y. Henry Holt and company. 1936

4) The study of Language. By John B. Carrall Harvard University press Cambridge. Second printing. 1955

5 Leave your Language Alone. By Robert A. Hall Ithaca, New. York. 1953

6) Language. Teaching By Edwin T. Cornelius. Thomasy. Crowell Company. New. York, 1953

دغه ډول مې دځینو پاړسو او پښتو کتابونو څخه هم دځیړنې او انتقاد دپاره څه مطالب را اخستی دی چه دا مطالب هم یوازې په قوسینو کښې نیول شوي او دامې مناسبه نه ده ګڼلې چه دلیکونکو او یا کتابونو، نومونه واخلم .

مترجم حسن کاکړ

د کولتور کړی

د جواهر لال نهرو

دیوې وینامتن چه د
هند په ثقافتي ټولنه کښې یې کړې وه

زه دلته په ډیره خوښۍ راغلی یم - خو سره ددې هم دماغ کښې مې ډیرې ګډوډی شته. خوښۍ مې داده چه تل مې زیار ایستلی چه نه یوازې شرق و غرب کښې له ګاونډیو ملکو سره د هند کولتوری علایق زیات کړم - بلکه له بهرنۍ نړۍ سره یې هم ټینګ کړم. داسې کولتوری علایق یوازې دهیلی او ارزو له امله نه دی - داسې هم نه ده چه مونږ ووایو دا علایق مفید وی بلکه دا د مجبوریت او ضرورت تقاضا ده چه سړی مجبور وی او که نه انجام به یې پرله پسې بد تری وی. کلکه هیله لرم چه د هند د کولتوری اړیکو ټولنه به زمونږ او د نورو ولسونو ترمنځ ښه نظر زیات کړی.

دا چه له دې وروسته، خپل فکری ګډوډۍ هم په ډانګه ووایم. د شا وخوا نړۍ په باب کښې زمونږ په ذهن کښې زار راز اساسی پوښتنی پیدا کیږی مو ز هر وخت دیوه او بل - د ملتونو افرادو او ډلو ترمنځ له تفاهم نه غږیږو او دا یوه ډیره جوته او ښکاره خبره ده چه ولسونه باید یو بل سر ښه و پیژنی او له یوه بل نه زده کړه و کړی.

سره له دې هم کله چه مونږ د تاریخ پاڼې اړوو را اړوو او یا جاری پېښې تر نظره تیروو ماته کله کله داسې معلومه شی چه هغه ولسونه چه زیات سره پیژنی -- زیات جنګ کوی. هغه هیوادونه چه په اروپا او اسیا کښې یو د بل په څنګ او یو د بل ګاونډی دی - یو په بل زیات نښلی او په داسې حال کښې چه دوی یو بل پوره پیژنی - د دوی دغه پیژند ګلوی د زیاتی همکارۍ سبب نه کیږی. په دې حال کښې غلطی چیرته ده؟ په طریقه او یا په تلنلار کښې؟؟

دا څه نوی شی نه دی د تاریخ په زیاتو پاڼو کښې دغه حقیقت ښکاره دی ایا د فردی ملتونو او یا د دغې مسئلې په طرز کښې څه غلطی ده او یا کوم یل څه سم نه دی چه حال څنګه باید وای هغسې نه دی؟

دلته یا مونږ په کولتوری اړیکیو ګړیږو هغه چه دلته تر هر څه د مخه زما ذهن ته را د مخه کیږی - خپله د کولتور کلمه ده چه خلك پرې ډیر بحث کوی. ما ته ښه یاد دی چه څه وخت زه ځوان وم او د جرمن په کولتور او د هغه وخت په جرمنیانو مې ځان پوهوه چه دوی

غو ښتل خپل کو لتو ر په زو ر او یا په کو مه بله لاره خپو ر کړی. ددغه کولتور خپرول او دهغه په ضد مقاو مت د جنګ سبب شو . د ا سې ښکا ری چه هر ځانګړی فرد او ملت د کو لتو ر دمفهوم په باب عجب نظر یات لری - او په د ې ډول کله چه د نظر یاتو په ډګر کښې د کولتوری اړیکو په باب خبری اترې وی د ا ډ یر ه ښه خبره ده - خو کوم څه چه په واقع کښې پېښیږی د ا د ی چه کله د غه عجیب نظر یات یو له بل سر ه نښلی - د د ې په ځا ی چه د و ستی او ښه نظرتر ې وزیږ ی زیاتره په دښمنی اوړی. د ایوه ا ساسی پو ښتنه ده - کولتو ر څه شی دی ؟؟ زه په خپله ځان کښې د اصلاحیت نه و ینم چه یې تعر یف وکړم او یو تا کلی حد و حد و د ورو تا کم - د ا ځکه چه د غسې تعریف مې ورته مینه لی نه د ی .

یو څوک لیدای شی چه هر ملت او هر بیل مدنیت به له خپل ځانګړ ی کولتور نه انکشاف کړی وی ا ومد نیت به بې له پخوانیو نسلو نو نه زیږ یدلی وی او هغه سل ګو نو او زر ګو نو کلو نو ته رسیږ ی اود ابه له هغې لومړ نۍ مفکورې سره چه اساس او تا داو یې باله شی - ښه سر یښ شو ی و ی اود غسې به خپل مزل وهی او په خپله لا ره به وړاندې درومی . په دې حال کښې به د او اضحه وی چه د یو ه فکرا ثر به په بل فکر پرې وتی وی - فعل او انفعال به روان وی - ا و افکا ر به لږ څه بد لون او تحول منی . ګومان نه کو م چه د اسې کولتور به په نړۍ کښې مو جو د وی چه د ې سو چه لرغونی وی - او د نور و اثر پرې نه وی پر ې وتی . د اسې شی هیڅ نه پېښیږ ی او نه باید څوک د اسې هیله ولری یو سړی نه شی ویلی چه په سلو کښې سل یوه تا کلی نژاد پورې اړه لری - ځکه چه د سل ګو نو او زر ګو نو کلو په یون کښې لږ و ډیر یو بل کښې ننوتی او ګډون راغلی. د کولتور حال هم د غسې د ی .

نو - کولتور به یو څه ګډوډ وی، خو د اسې چه د یوه ملی کولتور اساسی عنصر به پیاوړی پا ته و ی سره د د ې به هم د نور و کولتورو نو اغیزه پر ې پر ته وی. که د غسې څه په روغه جوړه کیږی زیان به نه لری . خو زیا تره یې د جنګ جګړ و لمبو ته پکی وهی . کله کله د او یره په کښې وی چه یوه ډله فکر کوی - نور یې کولتو ر لاندې کړ ی نو د و ی به د ې پسې شی چه ځا ن ګو ښه کړې طبیعی ده چه د ا کار د د وی نظریات او افکار ایسار وی ا و د خپر ېدو مخه یې نیسی .

د ا یو ناوړ ی حال دی - ځکه په هر څه ا و په تیر ه بیا په هغه څه کښې چه مونږ یې کولتور بو لو ر کو د ترهر څه بد د ی . که کو لتو ر ارزښت ولری - ښایی یو څه ژورو ی .

بر سیره پردې - ډ ینا میزم هم ولری. له دې نه چه تیر شو - کولتور یو لړ نو روعواملو پورې اړ ه لری. که یې موږ اوس په نو ملو پسې نه شو-

شایدیوملت دخپل تشکل په سرکښې له جغرافیوی اقلیمی -او ټو لو هغو پیښو نه چه په همه ملك کښې پیښیږی او پیښ شوی وی-متاثره کیږی: د عربستان کولتور- دهغه ملك له جغرافیوی حال- اودښتو نه متاثردی . او په همدغو حالا تو کښې را هسك شو یدی - جو ته ده چه په لرغونو مهالو کښې - د هند کولتور په زیا ته اند ازه لکه څنګه چه یې مونږ په خپل ادب کښې مومو د هما لیې له لوړوغرو- له ځنګلو له لو یوسیند ونو- اوله نوروهندی څیز ونو نه متا ثر د ی .

زمونږ دخپل ملك له خاورې نه د ا یو طبیعی وده وه . دوا ړه به یوتر بله سره ګډ شی-او یو خو ښ تر کیب به جوړ کړی لکه څنګه چه یې زیاتره د کولتور په بیلو بیلو ځا نګو کښې لکه معماری-ساز-ادب اوداسې نورو کښې کړی دی.

خو څه وخت چه دغسې زیار ته ملاوتړله شی -چه یو څه په نورو وتپل شی بې له دې چه هغه بې منلو ته تیا ر و ی .

په دې حال کښې نښته حتمی شی-په دغسې حال کښې دا سې بدمرغه یو څه راولاړشی-چه زما په فکر ا ین د کولتور له هغه اساسی عنصر سره مخالفت لری.اودا دنورو دتاثیر اتو په مقا بل کښې دذهن قصدی ګوښه کول- او تړل دی .

دهند دتاریخ په باب زما خپله نظریه دا د ه چه مونږ دهندوده اورکودله دې اړخه و ګورو چه هندشه وخت دنورو تاثیر اتو ته خپل ذ هن خلاص پرې ایښی او کله یې تړلی دی. څو مر ه چه یې تړلی هغو مره سا کن او په خپل ځای متوقف دی . ژوندیه خپله که دیوه فرددی-یاد یوې ډلې یادیوه ملت-او یادیوې جا معې په ا صل کښې یو ډینامیك، متحول او وده کوونکی څیزدی .

کوم هغه څه چه دغه ډینامیك فکر له حر کت نه غورځوی-په حقیقت کښې زیا ن و ر رسو ی اوخرابو ی یې.

که زه یې له دې چه چاته مې زیان رسولی وی داسی- ویلی وشم-نو به ووایم چه هندستر دینو نه لرلی اودغو دینو په بشریت ډیر تاثیرو نه کړی دی.

خو بیاهم زما په فکر دغو دینو په دې چه دانسان دماغ یې متوقف کړی (Static) ا و منحط کړ ی یې دی (Dogmatic) بد تا ثیر یې لرلی دی.ددغو دینو و ینا وې شایدښې وی خوددوی ددغوو ینا وو له تاثیرنه چه تا سې با ید د غلته ودریږی- اوتولې اخرنی رو ینا وې شوې دی یوه جامعه په ځای دروی اودادیوې جامعې د کولتوری ودې مخه نیسی او په مختګ ته یې نه پریږدی.

ددغو دوو اساسی عناصرودتوازن کولو په با ب ستاسې نظریه څه ده ؟؟

یوه خودا چه بشر دفرد په بڼه وی- که د یو ه نژاداو که دملت په بڼه- بایدحتماً یوعمق ولری او په کوم ځای کښې یوه تا کلی ریښه و لر ی. اوکه داوی چه دې سطحی وی-په ظا هر ه کښې

به مثقف و بریښی، خو داڅه اهمیت نه لری . یو نژاد او یا یوه ډله که په ماضی کښې ریښه ونه لری دهغه ارزښت به زیات نه وی ځکه چه ماضی د نسلونو د تجاربو یو تکاثف دی چه یو راز عقل تر ې انعکاس کوی. د دې لرل حتمی دی. او که دا نه وی ته به یو پردې زیړ تقلید یې دا سې چه رښتینی معنی به د فرد او یا ډلې په څیړنه لرې.

له بلې خوا یوازې د ریښو لرل هم کفایت نه کوی او ژوند پرې نه شی کیدای . حتی لا ریښی تر هغو چه لمرونه وینی او هوا وا نه خلی وچیږی او له کاره وځی. د غلته ده چه ریښی ثمرور کوی لکه څنګه چه لمر او ازاده هوا د ګل او حاصل سبب کیږی - له دې وروسته به وایه شی چه توازن دې لرلی دی

توازن هم اسان نه دی . ځینې خلك په ښاخونو کښې ګلانو او پاڼو بسی دي او تر هر څه نه یې ډیر خوښوی. دوی په دې بسې نه وی چه ښاخونه او پاڼې هغه وخت ښه وده کوی او غوړیږی چه لاندې ژورې ریښې او ولۍ ولری .

ځینی نور بیا دومره دولیو او ریښو په فکر وی چه ښاخونه او پاڼې ګرد سر. له یاده باسی او بس د ډډ فکر وړی وی . نو یو سړی به تعادل څنګه برابر وی ؟؟

په دې حال کښې به کوم څه رښتونی کولتور وی او کوم څه به نه وی ؟؟

ایا کولتور په انسان کښې د کومې دننۍ ودې نوم دی ؟؟

البته! دا رښتیاده .

ایا کولتور له نورو سره د سلوك کومه طریقه ده ؟ ؟ هو! همداسې. ایا دا هغه استعداد ته وایه شی - په کوم چه یو څوك ځان په نورو او نور په ځان پوهوی ؟ ؟ هو! دا خبره درسته ده . د کولتور په معنی کښې دغه ټول راځی .

هغه څوك چه د نورو په نظر ځان نه شی پوهولی په همهغه اندازه په فکر او کولتور کښې تنګ نظری کیږی - ځکه دی که هر څومره کوم خارق العاده انسان وی - خو چه کله ځان مقید او محدود کوی - د پوره عقل او بصیرت ادعا نه شی کولی . هغه بله ډله او هغه بله خوا به هم د پوهې یا بصیرت او یا حقیقت نه یو څه لری - که مونږ به هغو سترګې پټې کړو - نه دا چه یوازې خپل ځان به ترې محروم کړو بلکه د یوه غیر مثقف سړی فکری سلوك به موغوره کړی وی - ځکه چه یو مثقف ذهن له دې امله چه ریښې یې ټینګې او ژورې وې ښایی د نورو پرمخ یی خپل ور پرانیستلی وی او په دې توګه ځان کښې نور څه جذب کړی مثقف ذهن باید د نورو په خبره او نظریه ځان پوره پوه کړی که څه هم دی به له هغو سره تل روغ نه وی - او نه به یی خوښوی . ښایی کله یی ښه وایسیږی - او کله نه - خو د موافقت او مخالفت سوال هغه وخت مینځ ته راځی چه یو څوك په یو څه پوه شی د هر شی سر دواره او بې سوچه نفی مثقفه لار نه ده

اوس به زه بله کلمه مثلاً ساینس را واخلم .
دژوندانه د مسایلو دحل ساینسی لاره کومه
یوه ده ؟ داهغه لاره ده په کومه چه یو څوك
هرشی ګوری - او په تجربې او از موینې یې
حقیقت لټوی غلطی کوی - خو هیڅکله نه وایې
چه دادې داسی شی بلکه زیار باسی چه پوه شی
داڅنګه داسې دی. که پرې قانع شی - منی یې
او په هغه دقیقه کښې چه نور اثباتونه پیدا شول
ا دې امله چه دی دخلاص او نامقیده ذهن څښتن
وی - خپله نظریه اړوی - البته داسې ذهن نه
چه بس لکه پاڼه به په سست باد هم ښوری -
او اخوا دیخوا به کیږی - سره ددې هم نامقیده
ذهن به زیار باسی چه حقایق له هرځایه چه وی
وا خلی - او جذب یې کړی .

ښه ! که کولتور داوی لکه څنګه چه
وویل شوه، اوس نو داسوال راځی چه دا په اوسنۍ
نړۍ او ننیو ملتونو کښې ترکومه حده
تطبیق شوی ؟؟

جوته ده چه که دا تردې چه دې زیات تطبیق
شوی وای - زمونږ د عصر ډیر مسایل - ملی
او بین المللی به تردې هم لا ښه حل شوی وای.

په نړۍ کښې - هرملك لږ و ډیر داسې
فکر کوی چه ګواکی لوی څښتن په ده خاص
نظرلرې او ولس او نژادیې په نورو کښې وتلی
او تر نورو غوره دی - داسې چه نورولسونه
به هم ښه یا خراب یا یو څنګه وی - خو هغه ټول له
ده ښکته - او دی ترې پورته دی. دا یوه غیر عادی
خبره ده چه دا احساس څنګه په ټولو ولسونو -
د ختیځ او لویدیځ کښې بې له کوم استثنانه -
په ډیر قوت موجود دی .

دشرق ملتونه - دژوندانه دځینو مسئلو په باب
په خپلو افکارو، معتقداتو او د خپل علویت
په احساس ډیر ټینګ ولاړ دی خو سره د دې هم -
دوی ددوه درې تیرو پیړیو په دوران کښې، ښه
در دو ونکی سو کان په سرو خوړل - دوی
وغور ځول شول - لاندې شول - خوار شول او
استثمار شول - په دې ډول دوی که څه هم دځینو
وختو په فکر په ډیر واړخونو کښې یو څه لوړو و
مجبور شول چه داومنی چه په نورو واړخونو کښې
په سوکانو وهل کیدای او استثمار کیدای شی .

دسو کانو دغسې پر له پسې عملیسې په دوی
کښې تر څه حده دریلزم (واقع بینی) احساس
پیدا کړ . پخواله ریلزم نه دتیښتې - یوه سپکه
هڅه موجوده ده - او - هو - دا یوه ډیره بده
هڅه وه . کیدای شی چه مونږ دی - په مادی
شیانو کښې - په سطحی شیانو کښې دومره
پرمخ تللی نه اوسو - خو سره د دی هم مونږ په
اساسی شیانو کښې - په معنوی شیانو کښې -
او په اخلاقی ارزښتونو کښی دمخه یو.

زه په دې کښی څه شك نه لرم - چه معنوی شیان
او اخلاقی ارزښتونه په نهایت کښی، له نورو
څیزونو نه مهم دی - خو هغه طریقه چه یو څوك
په فکر کښې تیښته غواړی - په دی چه دی
روحاً لوړ دی او هغه بل دمادی او فزیکی حس

له امله ضعیف دی ډیره اریانوونکی ده او څوك یې نه منی دایوازې دیوه چا دانحطاط د علتو نو دواقعی میندلو نه یوه تیښته ده .

نیشنلزم (دملیت حس) یوه عجیبه حادثه ده په دی چه دیوه ملك په ځینی تاریخی مرحلی کښی دژوند — نمو قوت — او اتحاد سبب ګرزی او په همهغه وخت کښې په هغی کښې یوه هڅه شته چه سړی محدوده کوی — ځکه چه دی دخپل ملك تناسب په نورې نړۍ زیات ګڼی. داسې یې دنظر نیلی تغییر کوی — او یو څوك پرله پسې په خپلو مبارزو او ښوخو او وکښې غرق وی دنورو فکر او هرڅه له یاده وباسی نتیجه داشی چه د فکر هغه وده او قوت چه دنیشنلیزم په سبب پیداشوی وی — په ځای ودریږی او نور نووړاندې نه ځی نیشنلیزم د پرمختګ دسمبول په ځای دانحطاط سمبول ګرزی .

او چه نیشنلیزم کامیاب وی — کله کله بیا هره خوار یښې وځغلوی — په تجاوز پسې شی او په بین المللی لحاظ خطرناك شی.

دد ې دپاره چه په دغو څیزونو کښې موازنه وساتله شی باید یو څوك دفکر په کومه لاره باندې یون وکړی او که داسې ونه شی — هغه څه چه ښه وی په بده اوړی .

که په غلطه سترګه ورته وکتل شی — کولتور به چه اساساً ښه وی — نه یوازې داچه ټپ به په ځای توقف وکړی — بلکه تجاوز به اختیار کړی — او دکر کې او جنګ تخمونه به وکری. داچه ددې دپاره څنګه موازنه پیدا شی — زه نه پوهیږم.

اودا زمونږ ددوران په سیاسی او اقتصادی مسئلو سر بیره دورځی مسئله ده . ځکه چه شاته یې نن دانسان په روح کښې یوه زوروره شخړه ښکاری — یعنې د دا سې شی لټون روان دی چه اصلاً میندل کیدای نه شی .

ددوی اصل په اقتصادی نظر یا تو کښې ورګډ یږی ، او دغه نظریات بې له شك او شبهی زښت زیات اهمیت لری ، دابه لوی حماقت وی چه څه وخت انسان له ولږې ساه ور کوی په دغه وخت کښې د کولتور او دین ومذهب په باب تقریر ونه او وعظو نه وشی .دلومړیو اومړی شی دادی چه د انسان دژوند لومړنی اساسی ضرورتونه رفع شی او دا باید له هر بل شی نه دمخه وی دلته اقتصادیات تر هرڅه ړومبی دمخه کیږی نن د انسان له وس نه وتې ده چه دامسایل ایسته وغورځوی او ولږی او مرګ او زغم او افراط وتفریط ته پام ونه کړی او داهم په هغه وخت کښې چه دژوند پیټی دټولو په اوږو برابر نه وی . پیټی یو څوك وړی مګر فایده یې بل څوك خوری

نومونږ بله چاره نه لرو غیرله دې چه دغو مسئلو ته په اقتصادی لحاظ او په نورو لارو وګورو خوزما په فکر ددغو ټولو شاته دخلکو په ذهنونو کښی روحی مسایل شته .

دا به رښتیاوی چه ځینی خلك به دغو مسئلو ته په شعوری او ارادی نظر ګوری — او ځینی نورو ته به دومره روښانه نه وی او دوی به په غیر شعوری ډول ورته پا م لری — خو دغه شخره د انسان په روح کښی شته. دغه غوټه به څنګه خلا صه شی — زه یی په ر قم نه پوهیږم.

یو ه خبر ه می تل زوروی او هغه دا چه هغه خلك چه ز یات سره پیژنی، په خپلو کښی زیات اخ وډوب لری. سره ددې هم له دې نه باید دا نتیجه وانه خیستله شی چه مونږ باید د یو بل په معرفت پسی نه شو. که داسی کیږی شخص به ځا نته محدود او په ځان محصور شی. او دا هغه شی دی چه په ننني تیرې بیرې نړۍ کښی نه کیدو نکی دی. اساسی خبره داده چه مو نږ باید یو بل سم و پیژنو سمه پیژندنه مهمه ده. سم او دوستانه طرز اهمیت لری. ځکه چه دوستانه طرز د دوستانه طرز سبب کیږی.

په دې کښې زه یوه ذ ره هم ټکنی نه یم چه ښهٔ طرز د ښه طرز سبب کیږی او داد ژوندانه اساسی اصل دی که روش بد وی — ارو مرو بد روش ترې زیږی. نو که مو نږ له خپلو همنوعانو او یا نورو هیوادو سره سمه رویه وارو او دا په دې حس بنا نه وی چه ګو ا کی مونږ حقیقت او یا خپل نبوغ ته په لوړ ارزښت قایل یو او نور هر څه دې دد غـه حس مطیع و ی، مګر دا چه هغو ته په سمه او دوستانه نظر ګورو داسی چه زمونږ دهنو نه او زړو نه د حقا یقو دمنلو دپـاره تیاردی — دهغو حقا یقو دپـاره چه له هره ځایه وی — دا به نو نه یوا زې د تفا هم سبب وی — بلکه د تفاهم سمه لاره به وی.

نوزه دا ښه بولم چه تاسی خپل کارو زیارته پریږم د عقل او کولتور حدوحد ود وټاکیء. مونږ په زده کړه کښی — په پوهې کښې — او په تجربې کښې وده کوو او پخیږو — تر هغو چه مونږ له دغو نه سمه او پوره بر خه و نه لر و فهم به مو رښتیانې او حقیقی نه وی کوم چه مونږ یې د پو هیدو دعوه کوو.

زه داسی یو احساس لر م چه کیدا ی شی ټول هغه کسان چه د عصری ژوندانه او اوسنی ساینس له مزایا وو نه بې بهر ې وو په اساسی څیزونو کښې له مونږ ډیرو نه عاقل وو.

دا چه مونږ به په وروستیو مها لونو کښی په دی موفق یا نا کام شو چه د بنی نوع علم او ساینسی وده او بهتری به له رښتنانی عقل سره ټول ګډ کړو زه په دی نه پوهیږم. داد مختلفو قو تونو ترمینځ یوه شخړه او مسابقه ده.

د یوه نامتو یونانی شاعر ډیره عاقله وینا می په زړه کیږی. دی وائی:

عقل له دی نه غیر، بل څه شی دې؟
د ا نسان کوم زیار او د خدای کوم شفقت،
دومره ښه ایسید وونکی او دومره ستر؟
چه له و یرې نه پر څنګ شی، ساه
و با سی او انتظارو کاږی، څو په کر کې برشی
نو، مینه به د تل د پاره و نه نمانځل شی؟ پای

انعکاسات

دمسکو دعلمی اکاډیمۍ دختیز پیژندنې مجلې څخه

ایکونکې: ګراسیموا

دمعتمد شنواری ترجمه

کابل مجله دشوروی مطبوعاتو په نظر کښې

دامجله په میاشت کښې یو ځل دپښتو اکاډیمی له خوا خپریږی- دایوه تاریخی- ادبی او اجتماعی مجله ده.. ددی مجلې مسئول مدیر یو ځلمی ژورنالیست محمد حسن کاکړ دی دې مجلې خپل سیاسی او اجتماعی موقف ډیر اوړ بیولی او په ښه شان یې ساتلی دی.

دمجلې له خوا په مسایلو او موضوعاتو په داسې فوق العاده وسعت سره رڼا اچول کیږی چه هیڅ شی مجمل نه پریږدی.

دملی شئوناتو تشریح او د عنعنوی دودونو بیان ددی مجلې د خاصو موضوعاتو څخه ګڼل کیږی.

کابل مجلې په یو لړ مقالو کښې (دمملکت سیمې وپیژنیء) لوستونکو ته دپښتنو دمختلفو ځایونو ژوند او ددوی مختلف قومونه ورو پیژندل

د ۱۹۶۰ کال په ٤۹٦ ګڼې کښې چه ترنکوال دمجلې یو کلنی اجمال لیکلی دی داحقیقت ترې معلومیږی چه دکابل مجلې خصوصیت دپښتنو دژوند سره علاقه او دلچسپی ده.

د۱۹۵۹ ع کال په ٤۷۸ ګڼې- کښې دقیام الدین خادم مقاله (داحمدشاه بابا پښتنولی) او په ٤۷٦ ګڼې کښې د محمد یوسف مقاله (دپښتنو په ځینو ځایونو کښې دویش عادت) دزیاتې خوش بینۍ او مبالغې رنګ لری باید دامقالې دحقیقت په رڼا کښې لیکل شوی وای خیرله یوې خوا داسې مبالغه امیزې مقالې لیږې اوله بلې خوا داد مجلې مسلك او سبك نه دی. دپخوانیو عنعنوی او ډیرو نیژدو تعلقاتو له امله دنو موړې مجلې دسنبلې دمیاشتې ګڼه دپښتونستان دورځې د پاره وقف کیږی- ددې میاشتې ګڼه دمشاعری دپاره لار پرانیزی او د مسابقې په ډول له شاعرانو څخه غواړی چه پخپلو اشعارو کښې پښتانه او پښتونستان وستایی همدا راز په هر کال کښې د پسرلی یوه ګڼه داولسمې پیړۍ د کلاسیکی اوستر شاعر عبدالرحمان دپاره مخصوصه کیږی- په دې مشاعره کښې خورا نو میالی او وتلی شاعران دخپل جد او بابا په نسبت خپل عقاید او اخلاص ښکاره کوی او دا هم څرګندوی چه شعر او ادب- شاعر او ادیب دخلکو په ژوند کښې څومره رول لوبوی.

له ډیرې پخوا څخه د مجلې دا عادت دی چه دنړۍ یو لړ نومیالی، خلکو ته ورو پیژنی چه په دې سلسله کښې یې ګالیلی- اډیسن- روسو- شکسپیر- او همدا راز نور مشهور پوهان لیکوال او مخترعین نشر کړی دی.

دکابل مجلې ځای دموجوده عصرموضوعاتو احتوا کړی دی یعنی اصلی هدف یې داوسنی ماحول پهمسایلو رڼا اچول دی.

کاکړ پخپلې مقالې کښې (افغانستان او خپلواکی) چهدمجلې په ٤۷۸شماره کښې نشره شوې ده پههغو حوادثو چه دخپلواکی دګټلونه وروسته پههیواد کښې واقع شوی پوره رڼا اچولی ده پهداسې حال کښې چهدی پهدغو کلونو کښې دکار خانو - سرکونو - پلونو - بندونو - دبرقی فابریکو اودنور و جوړیدونه بحث کوی دې نتیجی ته رسیږی چهاقتصادی پیشرفت دمملکت پهاجتماعی ژوند او سیاسی چارو اثراچوی اوهغه تغییر ور کوی.

کاکړ لیکی چهپهدې وروستیو څلوېښتو کلونو کښې افغانی جامعه ورو ورو فیوډالیزم پریږدی او دکاپیټالیزم په لومړیو پوړو کښې ننوځی - لههمدې نظره دکاکړلهخوا دامقاله(زموږ ذهنیت)دمجلې په٤۷٦ګڼې کښې لیکل شویده - دی پهدې مقاله کښې ښکاره کوی چهدخلکو اقتصادی حال احوال سره ډیر فرق لری اوهمدا رازطبقاتدپوهنی لهحیثه یوراز نهدی - ډیر اختلاف په کښې شته.

کاکړ دمملکت په زیاترو روشنفکرو انتقاد کوی چه دوی دخلکو افکارو اواحتیاجاتو نهښه خبر نه دی - دده په عقیده ددې خبرې دپاره دوه دلیلو نه شته یو دا چه دهیواد دمختلفو سیمو ارتباط مشکل دی اوبل داچه زیاترمنورین لهعامې طبقې سره خپل تماس اونزد یکت تحقیر ګڼی:

کاکړ پههغهمقالی کښې(مجلهدیرش کلنه شوه) زیاته توجه دې ته کړې ده چه منورین اوخصوصاً لیکوال دجامعې پهژوند کښې څه رول لوبوی - دی په دې تاسف کوی چه دا لیکوال زیاتره برخه ددې پهځای چه دارتجاعی اومضرو افکارو پهضدمبارزه و کړی عاشق اومعشوق، ګل اوبلبل ستایی.

کاکړ پهخپلې یوې مقالې کښې دڅهتحقیقونه وروسته لیکی چه: (هرهنر اوفن دوه طرفه لری: مترقی اوارتجاعی .ستاسې خوښه کومې خواته میلان کوی)-دده دامقاله دګورکی لههغې مقالی سرهچه(تاسی دچاطرفدار یاست ؟؟) پوره مشابهت لری.

دکابل مجلې پهصفحو کښې دنورې نړۍ دژوندا وثقافت نههم خبرې کیږی او اوستونکوته په دې باره کښې معلومات ورکول کیږی دامریکا په باره کښې دافغانی ښوونکو دشپږ هفته پیز سفر نه وروسته په مجله کښې ډیر څه نشر شوی دی. کاکړ په یوهمقاله کښې د (پیټسبرګ سمینار) ترعنوان لاندې ځینې حساسو ټکوته اشاره کوی اولیکلی: دا امریکا چیغې وهی هلته ډیره ازادی دهمګرحال دغسې نهدی پهامریکا کښې داسې ماړه خلک شته چههرڅه ددوی پهلاس کښې دی حتی مجلې پاتی دبشتی په دریم مخ کښې

محمد یوسف ساپی

دمجلې داستان

دتیرو پسرلیو په یاد

دځلمیتوب وختو نه هرچا لیـــد لی دی، اوهر څوك به ځوا نا ن شی، خو نظر ګل چه دځوانۍ کوم ټس تیر کړیدی دهغه په صفتونو اوس هم لاڅوك نه مړیږی. ده په ځوانۍ کښې هغه دچاخبره تیږه نیغه اچوله اولاندی به یې سرورته نیوه. په توره اومېړانه ورسره چاسیالی نه وه کړی، اوزمرې به تري په غرو کښې رمیدل دانګریزانو سره دغزاګانو په وخت کښې یې هم ډیر نوم ایستلی واوشامدام به دکلی دځلمیانو اوتور زنو سرو الاو. دځوانانو سره راشه د رشه دده خاصه مینه وه او هروخت به په ده باندې دکلی ځوانان راټولیدل کوربې ښایسته ښه ودان و. دوه درې ځامن اودرې څلورلونې یې درلودلې اوروزګار یې په خوشالۍ چلیده. توره ټوپك دده په ژوند کښې ضروری څیزو نه و وا و دی هیڅ وخت بې وسلې نه ګرځیده دبولې پټی له درکه هم ښه واو خپل ګوډی یې د بل کورته نه وروړ. خوورو ورو زمانې بڼه بد له کړه او دنظر ګل د سعادت بنګله مخ په نړید و شوه دنیا یی کارو بار یې ورځ به ورځ خراب تراب شه هغه دانډ یوا لانو اوځلمیانو تګ را تګ سوړ شه اوهغه پخوانی ډول وډال یې تالا ترغې شه: په کور کښې لویه تبه ګډه شوه اودهغې په واسطه یې ښځه اوځامن مره شول. لونې یې هم هغه دغه شوی اودنظر ګل ودان کوراوو دا نه مینه په کنډواله بدله شوه. دښځې اواولادونو ګورو کفن پوروړوو که. څه چه یې درلودل هغه ټول ترې پوروړوو اخستل اوپاتې څه چه یې په کور کښې لرل هغه ترې یواوبل په غلااوچل ول یو وړل اودی یکی یوسرد خدای اسری ته پاتې شه. تردې چه دشپی اغوستن یې نه درلود اودشپې له خوابه په یوه شلیدلې شړۍ کښې په بوسو کښې پریواته. داوخت څه دعمر تیر یدل او څه خود غمونو اوکړاوونو بار دنظر ګل ملا کړو په کړه اواوس نااشنا او اشناخلکو دبوډ! په نامه مخاطب کاوه په کور کلی کښې دمزدوری کولو څه وسیله نه وه اود کوم خان ملك کره به چه کومه نوکری یامزدوری پیدا کیدله نو هغه بیادومره ګرانه وه چه دده په وس به نه وه پوره. یوداسې وخت راغی چه دده څو شپې ورځې دخوړلو څه پیدا نشو اونهار نهور به ګرځیده سوال کول ورته ننګ ښکاریده اوزړه یې نه منله چه چاته دمرستی لاس ونیسی. اخر نهار بیده شه بیده څله شه محضی په خپل ځای کښې څملاست ټوله شپه په ځای کښې اوښت را اوښت اولکه دبریښ ناجوړه خوب یې په سترګو کښې متره وه کله به دځای نه پاڅېدترور ترور به یې اخوا دپخواوکتل خودخوړلو څه به نه ونو بیرته به په بوسو

ننوت. لبزسات بهغلی وهخوچه د و لبزی څپه
بهپرې راغلهنو بیابه لکهدبتهی دمار پهشان تاوراتاو
شهاوبیالکه لیونی اخواد یخو او کر ځید خود
خوړ لوڅه بهیې مینده نه کړل یوهزړه څپلی
په فکرورغله . زر پاڅیدد کومې سوړې نه یې
راو کښله دمغې بوتکی یې یوسات په خو له
کښې واړاوه را واړاوه مګردکلونووچهڅپلی
وه اودخوړ لووس یې پر ې ونه شه.

پهنظر ګل باندې داشپهدکال نههم زیاتهاوزده
شوه پهاخر ځل چه راووت ګوری چهلاهماغسې
شپه ده،بیرتهپهتادی ستون شه خپلهشری یې
راواخستله بوس یې ترې وتکول او د ملا یې
تینګه وتړله او ځان یی د کلې په مخ کښې
ویالی تهورساوه یوڅو غړپه او به یې و څښلی
خوپه هغې یې هم څه تپاك مات نهشه اوپهزړه
یې غو ته ودر پدې .

څه سات دو یا لې په مو ړه کښینا ست . سل
چزتو نهیې ووهل خوپه یوهیې هم زړهورنهغی
کله بهیې پهزړه کښې خوښه کړهچهراشهدفلانی
دکوروره ته ورشه اوسوکړك ترې و غو ا ړه
خوچه بیابه خپله پخوانی ځوانی او ښه عمر
ورپهیادشهنوځانبهورتهپهدې کارسپك ښکاره شه
بیا بـه بې پـه زړه کښې ټول هغه پخوا نـی
ځلمیان او دوستان راپره کړل کوموچه لهده
سره دځوانی اوودانی په زمانهکښې دوستی
لرله . خوپه اخربه یې په دغې هم سلا رانغله
اوشك ورښکاره شه . په اخر کښې ورتـه

دا فیصله غوره ښکاره شوه چـه خپل کلی
کور پریښودی اوهمداوس کوم اري پلوته لاړ
شی اوهلته که ولبزه وی که تنده ـ که ژوندوی
اوکه مرګ خود کلی دخواوشا خلکوستر ګې
پری و نـه لګیبزی اواخره خاتمه یې سپکه
نه شی . ناڅاپه دلیونی په شان پاڅیداود کلی
دخوابره لاربی ونیوه اما دانـه ده معلومه چه
چیری اوچا کره ځی. داوخت شپهپهاوښتوشوه.
ځای پهځای دبیدیامرغیودسهاردپاره رنګارنګ
نغمې شروع کړې . دبسرلی شپې ورځې وی
اوهوا دهرڅه شی دپاره دنوی ژوند پیغامونه
دراودل . امانظر ګل ته دمرغانو نغمې اودسهار
دغه ژوند ښونکې وزمې چه دهرې خوانهبې
دخودرویه ګلانو اوبوټو بویونـه له ځان سره
راوړل داسې ښکاریدل لکهچهیوڅوك دغریبی
اوبې وسی نهمری اوبل ورپورې خاند ی او
ملندې کوی . زړه یې غواړی چه جلت جلت
لاړشی اود کلی خلك بی په تلوخبرنشی اوترڅو
سباوون لګیبزی ځان کومې لرې ودانې ته
ورسوی، اماخالی ګیده بی دښمنه وهاودلوزې
نه یې پښې کښې وزې غوندې شوې اوزربهیې
یو ې موړی ته تکیه ولګوله . چه لبزه شان
دمه بـه بې جوړه کـړه نوبیا به پاڅید . روان
به شه ، خوڅوقدمه به لاتللی نه وچه کولمې
به بې بیا تاوشوې او دتلوته به ووت . څوچه
دسهار لمونځ روا کیده ، دی بیا په ډیر
شواخون (ددمی کنډو) تهورسید ،دبدهمرغه

به دې شپه ګریزی کوم مامور دخوتنوار دلیانو سره د کنډ و په سرد کوم ګریزی مال دنیولو دپاره ناست. وو. دلرې نه یې په نظر ګل ستر ګې ښخې شوې ا وپوخ یقین یې شوچه دا ضرور کوم سړی دی چه ګریزی مال به ورسره وی نظر ګل دکنډ وسرته وخوت اودرسیدوسره یې ځان دیوې موړې بیخ ته وروغورځا وه اوسم دم پریوت . دنظر ګل په لویدلوسره ګریزی والا لا بسې بدګمان شول ، اوسم د وا ره یې په نظر ګل ورمنډې کړې اودرسید و سره یې نظر ګل ته د ټوپکو تو خولې ونیولې ویل څوك یې ؟؟ مال دې څه کـه ؟؟ ځان دې وښیه ګوندې دمرګ فیصله دې وشوه . دنظر ګل خوار کی وینې د ډارنه په رګونو کښې وچې شوې . ویل دخدای دپاره مسافریم اودولبزې نه پاڅیدلې نه شم زه ګریزی نه پیژنم. ګورئ چه مړمې نکړئ ګناه ګار به شئ دا وخت لادسهار خړه وه سړی په کښې سم نه ښکاریده خوچه ښه ورته ځیرشول اود نظر ګل مرګ ته ورته څېره او شلیدلې شړی یې ولیدله نوپوښتنه یې تری وکړه : هلکه ! داشړی دې په ملاولې تړلی ده ؟؟ په دې کښې به خامخا څه لری ؟؟نظر ګل وویل : ورونو! شړی می دولبزی نه په ګیډه پورې تړلې ده . زمادرې ورځی وشوې چه څکه مې نه ده کړی. هغوی وویل : دروره موږهـم څوورځې وشوې چه دلته دیوه چانیولو دپاره دلته دېره یواو اوس ایله دومره څه لرو چه زموږپرې خپله ګذاره وشی . موږخوبل پلوتللی هم نه شواو ستاخوپه مخ کښې آبادی شته . لبزځان وخوځوه څوچه لمر تو د یبزی ته به آبادی ته وتی یې . هلته ښه ودا ن خلك شته اوتا به ترستونی موړ کاندی نظر ګل وویل - ورونو! ځما کولمې نورې په ماپورې ونښتې دتلو نه یم. که دخوراك لبز څه دخدای په خاطررا کولی شیء،نوښه ده او که نه نودومره خو و کړیء چه که مړشم چه مړی مې مرغانو اولیوانوته پرې نبزدیء اویوه لپه خاورې راباندې واړوئ چه غوښې می دځناورو دخوراك نه شی .په دې کښې یوه تن په شاپورې څادر کښې غوټه راایله کړه .یوڅه دسو کړك میده ګوری یې په لاس کښې ورواچاوه. ویل په دې باندې دې خوله وخوځوه چه مړنشی اوځان تکړه کړه وخوځیبزه . آبادی لنډه ده موږایله دومره څه لروچه ځانونه پرې ژوندی وساتوموږ پنځه کسه یواوپه تاځان نه ور کوو یوه تن وویل: هلکه!یوڅه شنه واښه ماښه ولی نه ورکوئ اخوا دیخوا و ګورئ په خوله کښې یې ورکړئ چه زړه یې پرې راتینګ شی او آبادی ته ځان ورسوی. یودوه تنه پاڅیدل یوڅه پیاز کی اوڅه نور بدو بلایې راټول کړل

نظر ګل ته یې ونیول هغه په پټوستر ګو واخستل او په خولې یې کړل . نه پوهیده څه شی دی خودستونی یې تیر کړل او یو څه قدری اوسون یې برابرشه . بیاورته ګریزی والا وویل:

ورورکیه ! ځان ودانۍ ته وباسه . موږ په خپله ګیډه پورې حیران یوزموږ په تمه به هسې دتګ نه پاتې شې او د لوږې نه به مړشی. نظر ګل خوار کی په کنوړو کنوړو دځای نه پاڅید، او بیایې خپله لارونیوله . دیوې ښې شېبې مزل نه پس د لرې نه یوه غټه کلا په نظر ورغله ، چه خواوشا یې ګڼې ونې ښکاری او داسې معلومیږی چه دکوم ودان سړی کور دی. زړه یې راټینګ شه او مزل ته یې ځان ونیو تنکۍ غرمه وه چه ځان یې کلاته ورساوه دوارخطایی نه یې د کلادروازه نه مېندله، خو بیا کوم سړی راپیداشه اولار یې وروښودله د کلا په مخ کښې دیوه غټ بڼ دروازه ورښکاره شوه زرپه دروازه لکه دلیونی په شان ورننووت . دباغ په منځ کښې یوه غوټه خلك په نظرورغلل زریې دهغوی په خواورمنډه کړه ګوری چه یولوی سپی په سمه لار کښې په یوه نوی مزی په یوه نری لرګی پورې تړلی پروت دی چه په لږحرکت خلاصیدی شی او که څوك په خوله کښې ور برابرشی نو یې له مرګ نه خلاصیدل ترې غیر ممکن دی خو دخدای فضل دسپی غوښې او ډوډۍ په ځان ډیرې کړې وې او په درانه خوب بیده و. نظر ګل چه سپې ولید ، لاریې بدله کړه او دپښو په څوکو ورو ورو تیرشه . ګوری چه دلویو لویو چنارانولاندې په یوه لویه ډبه ګڼ کټونه پراته دی یومسخره ګرمسخرې کوی او نورورته خاندی . نظر ګل پرې سلام واچاوه او یوه خواغلی ودرید. هغه دمخه سړی ویلې وچه داځای دستا نه وو کوردی نو ځکه دسلام نه وروسته دیوه سړی په لاس پورې ونښت چه ښکل یې کړی. هغه ټیل واهه ویل ځنا وره ! دلاس ښکلولوسړی وپیژنه .ده ویل صاحب خیردی زه نابلد یم دچالاس ښکل کړم؟ دلته چه ددیرې والا په نظر ګل ستر ګې ولګیدې سمدستی یې خپل سپی ته وکتل اود کتلوسره زردځای نه پاڅید . یوغټ کوتك ته یې ګوتې کړې او په خپل سپی یې ګذ ارونه وګړل او زښت ډیر یې وټکاوه. دده مطلب داوچه سپی ولی غفلت کړیدی او دا سړی یې ولې نه دی خوړلی؟؟ نوروخلکو په نظر ګل تانټو جوړ که ویل تا دلته څه بلاغوښتله ؟؟ په ... صاحب دې دکلونوساتلی سپی مړ که .نظر ګل خوار کی چه دا منظره ولیدله خپله ګیډه ا وولبزه ترې هډوهیر شوه دډیرډارنه ورپیدخوخبره دخبرې نه تیره ده — صاحب چه د سپی له وهلونه

وز ګارشه نو دواره یې نظر ګل ته وویل څنګه راغلی یې؟؟ نظر ګل په رپیدلی اواز کښې وویل: صاحب! څوشپې ورځې وشوې چه نهار نهوریم که دخدای په نامه کومه دسو کړك سړه مړۍ را کړی نو ثواب به مووشی او ...

صاحب وویل: احمقه! دا وخت دسو کړك دی؟؟ صبا ناری خوړلی شوی او غرمه ناری لاتر اوسه نه دی پوخ شوی ... صبر وکه چه پوخ شی. نظر ګل وویل... که دسرامان وی نوزه دولبزې نه مرمه او که کومه سړه مړۍ اوس پیداشی نوښه به وی ... صاحب په قهرشه او ناظر ته یې وویل. زرشه یوه کټۍ او ګره او یومن سو کړك په تلوار راوړه او په دې احمق یې وخوره خو پام کوه چه ټول و خورې او که یوه ذره ترې پاتې شوه نو ما خبر کړه چه ساه یې په وهلو وهلو وباسم.

ناظر منډه کړه سمدلاسه یې یوه غټه کټۍ او ګره اود یومن نه زیات سو کړك راوړل اود نظر ګل په مخ کښې یې کښیښودل و یل دا به ټول خورې او که نه نو مرګ دې حتمی دې. نظر ګل ولبزې ترور کړی وڅه چه یې ګیډه کښې ننواته هغه یې وخوړل خو پاتې او ګری اوسو کړك ته حیران پاتې شه ځکه هلته دوهلو ټکولو اوحتی دمرګ خبره په منځ کښې شته اود سپې دوهلو قصه یې هم په سترګو لیدلې وه نو ددارنه یې یو څه سو کړك په بډه ومنډل، او پاتې او ګرې ته یې پښه ولګوله. دبده مرغه ناظر د سو کړك په بډه وهل ولید او دواره یې صاحب ته و و یل صاحب! سړی خوسو کړك ټول په بډه ووهل او تاویلی و چه ټول دې و خوری صاحب پاڅید هماغه کو تك چه سپی یې پرې و هلی و د نظر ګل په سر ونیو ویل که یو پو ټی درنه پاتې شه نودا کوتك به دې په سرمات کړم نظر ګل خوار کی سو کړك بیرته دبډې نه را ویستل او په خوړلو یې شروع و کړه هغه دچا خبره دزور او به نیغې هم ځی هره مړۍ چه به یې کوله نو یو سانتی به ورسره جګیده لنډه دا چه نظر ګل دغه یوه کټۍ او ګره او یومن سو کړك په ډیر زور وخوړل. تر دې چه دپاڅیدو نه ووت او خیټه یې لکه پو کړی غړ کۍ نیغه راووتله ناظر صاحب چه راغی اود نظر ګل پړ سیدلې ګیډه یې ولیدله نو صاحب ته یې وویل صاحب د مسافر نه خو عجب شی جوړ شوی دی... صاحب خودخدای نه سات تیری غو ښتله سمد ستی راغی او چه نظر ګل ته یې و کتل نو یې وویل دا خو په رښتیا! ترستو نې پړسیدلی دی اوو رسره یې وویل که سړی په لینده دا پړ سیدلی ګیډه وو لی نو عجب آواز به و کړی او ددې نه پس یې ناظر ته وویل هغه لینده زر راوړه ناظر په لینده پسې منډه کړه

او یوه بل سړي ته یې وویل ته ورشه دسین دغاړی نه ښایسته غونډ غونډ کاڼی راوړه د ستر ګې په رپ کښې لینده او کاڼی حاضر شول. صاحب وویل دا کمیس ترې وباسیء او خیټه یې بر بنډه کړیء. خلك په نظر ګل پوري ونښتل چه کمیس ترې وباسی. د نظر ګل تردې ساته پوری دا یقین وچه ګوندې هسې ملنډې راسره کوی خوچه پوه شه دا کار رښتیا راسره کیږی نو په عذر وزاری یې وویل د خدای په لحاظ صاحب ستړی ستوما نه یم. مزل مې کړیدی سپین ږیری یم د کاڼو د ویشتلو نه یم ته دې خپل سات په بل شی تیر که اوما وبښه خود نظر ګل خبرو ته هډو چا غوږو نه نیوه ناظرانو ترې کمیس وایست لاسونه یې ورله شاته ټینګ ونیول او صاحب مخامخ په کټ کښې کښینا ست. په لینده کښې به یې کاڼی ایښودل او د نظر ګل په خیټه به یې ورخو شی کول او چه هر ځل به د نظر ګل په خیټه کاڼی ولګید نو د ډیر پړسوب نه به یې خامخا ډب کاوه او د ډب سره به صاحب د خندا نه شین شه، او نورو خلکو او ناظرانو به هم ور سره خندا غبر ګه کړه او د خندا محشر به جوړ شه او چه د نظر ګل لوڅو بو څوا وژړه غونې خولې ته به یې یام شه نو د خندا نه به پسی خندا جوړه شوه څو مره کاڼې چه د سین نه چا راوړی وو هغه ټول د نظر ګل په ګیډه وغوځار شول او د هر وار سره به د نظر ګل سوری ناری اسمان ته ختلې. دې ډرامې دوه ساته دوام درلود او کله چه خلکو، (صاحب) ته وویل چه (صاحب) د مسافر ګیډه ستا په رسا رسا ویشتلو نوره ښکته شوه بس دی نو... (صاحب) امر و که چه جومات له یې یوسی ناظرانو نظر ګل ډنګه ډولی ونیو او په راښکو راښکو یې تر جوماته ورساوه او ور ګذار یې که. سهار چه خلك جومات ته راغلل نظر ګل خوارکی په هماغه ځای کښې غونډ منډ پروت وو او ساه یې ختلې وه. خلکو د دربار شاته په یوه ادیره کښې څه قوتی غوندې قبر برابر که خوچه کله یې د نظر ګل کاکامړی پورته کاوه نو لاسونه او پښې یې نه غزیدل خلکو ددې دپاره چه په قبر کښې ځای شی د نظر ګل دواړه پښې ماتې کړی او په خاورو یې ومنډه په دې ترتیب د نظر ګل دژوند په غم لړ لوډامه همدلته ختمه شوه.

موري

چه غمو نه مې د زړه نه شی چا پیره
او د خلکو بدخو یی د حده تېره
ستا موسکی ستر ګې مې تل وی مدد ګارې
ستا یاد یاد د هر بیداد کړی مانه هېره

«غنی خان»

اخبارو نه لري او دخپلو شخصي ګټو د پاره يې استعمالوي . په امريکا کښې دوه لوي حزبونه شته چه په نامه يو تر بله سره بيل دي مګر په معنی کښې څه فرق سره نه لري - د مقالې ليکونکي دا هم ليکي چه امريکا له هغو دولتونو سره چه نظامي او اقتصادي تړون لري يو قسم وضعيت کوي او له نورو سره بيا بل قسم .

دا هم بايدوويل شي چه دا سې ګټور معلومات نه يوازې دا چه پخوا ددې مجلې په صفحو کښې نه نشريدل بلکه د هيواد په نورو مطبوعاتي څانګو کښې هم په نظر نه راتلل .

د کابل مجلې توجه زمونږ هيواد (شوروي اتحاد) پلوته هم ده .

د مجلې د مدير دا مقاله (د شوروي په ننني جامعه کښې اقتصادي تاريخي - جغرافيوي، سياسي - . . . اړخونه) ډيره وسيعه مقاله ده - په دې مقاله کښې د سوسيالستي او سرمايه داري مقايسه شوې ده - د شوروي اتحاد اقتصادي پلانونه پکښې ذکر شوي او د خلکو صحي اوضاع يې ستايلې ده او دا هم ليکي چه په شوروي کښې دوا او درمل وړ ياور کول کيږي .

نورې مقالې چه د شوروي اتحاد په نسبت معلومات لري هغه د عبدالشکور رشاد مقالې دي - په دې مقالو کښې لوستونکو ته د لينن کتابخانه ورپيژني د لينينګرا مشاهدات په کښې ثبت دي په يوه بله ګڼه کښې د شوروي افغان دوستۍ ټولنې او د چخوف د سلم تلين يادونه هم په کښې شوې ده کابل مجله د فلسفې نه هم بحث کوي او دا شان موضوعات ترڅيړنې او تجزيې لاندې نيسي چه د سيد بهاءالدين مجروح د دې مقالې (د فرد او اجتماع د يا ليکټيک) نه دا معلوميږي چه دي د هيګل - روسو او دارو پا د نورو فيلسوفانو له افکارو او نظريا تو سره پوره اشنا دي - مجروح د هيګل په طرفدارۍ د روسو په ځينو اجتماعي قرار دادونو انتقاد کړيدي :

کابل مجله د انقلاب نه پخواني روسي له فلسفې سره هم خلک اشنا کوي او په ٤٧١ - او په ٤٧٢ ګڼو کښې يې د (چيرنيشيف سکي) د فلسفې ځينې برخې ترجمه کړيدي .

بديعي او ادبي اثار هم په مجله کښې نشريږي - په دې اثارو کښې اجتماعي او ګټور نظريات ليدل کيږي . هر ليکونکي ډيرزور اچوي چه خپلو بديعي اثارو ته داسې رنګ ور کړي چه د لوستونکو خوښ شي او فايده ترې اوچته کړي .

په زړه پورې خبره دا ده چه د مطبوعاتو لومړۍ درجه جايزه هغو دوه قصو واخيستله چه دوه ځلميو ليکوالو ليکلي دي - دا ځلميان سليمان لايق د ژوندون مدير او حبيب الله تېزي دي - د يوې قصې عنوان (د کوڅو سرګردان) او د بلې (جړوربل) دي - د دغو دوه قصو موضوع ډيره موثره او اجتماعي ده او په داسې لهجو ليکل شوې ده چه حقيقتاً رقت راوړونکي دي .

د موضوع له حيثه د غو د دوو قصو ته د محمد صديق سيلاني قصه (ځواني) - د محمد يوسف ساپي قصه (د ژمي يو ماښام) او د سيد احسان الله هير قصه (رنځور) ډيرې نژدې دي . په دې قصو کښې د بيوزلو سره همدردي ښکاره شوې او د دوي په حال نظر اچول شوي دي . د داسې قصو له چاپ څخه معلوميږي چه کابل مجله څومره د پښتنو له حقيقي ژوند سره علاقه لري او څومره له دغو خلکو سره همدردي کوي .

په ډېرې خوشحالۍ باید ووایو - چه د مجلې په ٤٨٨ ګڼې کښې د روسي مقالې یوه ترجمه خپره شوې ده - د دې مقالې لیکونکی دوور یانکوف او مترجم بې معتمد شنواری دی - دا مقاله (د ګل باچا الفت غوره اشعار) عنوان لري په دې مقاله کښې د افغانستان د دغه مشهور شاعر په اثارو بحث شوی دی .

د مجلې په ٤٧٦ ګڼې کښې یوه قصه (غر په سر لار نه لري) نشر شوې - دا قصه په ډېر لوړ فکر او پوره جوش لیکل شوې ده - د دې قصې لیکونکی سعد الدین او د قصې قهرمان او محور یو زړور او د ثبات څښتن دی - قهرمان سره د خپل ملګري د غره لوړوالی اندازه کوي - وروسته له ډېرو مشکلاتو خپل ځانونه د غره سرته نژدې کوي مګر له بده مرغه په دې حال کښې دی د غره نه ګنډه کیږي مري مګر نور خلك راځي او ان د غره سرته رسیږي په دې حین کښې سیل بین له ډېرې خوشحالۍ نه وایي چه انسان څومره قوت لري چه د طبیعت له دغه وحشي موجود سره مبارزه کوي چه بالاخره ورباندې غالبیږي - دا قصه په حقیقت کښې د انسان په قوت او زړور توب د افتخار اهنګ لري او یوه په زړه پورې قصه ده .

په مجله کښې عشقي شیان هم نشریږي د محمد یوسف ساپي قصه (کوتره) په همدې لړ کښې راځي - کوتره یوه پیغله ده چه دوه ځلمیان پرې مینیږي په نتیجه کښې دا دوه ځلمیان په خپل مینځ کښې سره دښمنان ګرځي - تقدیر دا پیغله د یوه زاړه سړي په برخه کوي - ځلمیان دا خبره مناسبه نه ګڼي نو هغه وژني - کوتره وروسته له دې چه له زاړه سړي نه خلاصیږي نه پوهیږي چه په دې دوه ځلمیانو کښې کوم یو انتخاب کړي او کوم یوه ته ترجیح ورکړي نو ځان سیندته ورغورځوي . ځلمیان د دې د پاره چه کوترې ته نجات ورکړي هم ځانونه ورپسې غورځوي چه په نتیجه کښې ټول مري دا د قصې خلص مطلب دی .

همدا راز د نیك محمد پکتیانی قصه (پښتنه ښځه) دې قصې ته نژدې ده او عشقي رنګ لري دا سې هم عشقي اشعار په مجله کښې چاپیږي او کوښښ کیږي چه هغو اشعارو ته چه اجتماعي رنګ لري قدامت ورکړي - د دې جملې نه د ګل باچا الفت شعر دی (شاعر) - په دې شعر کښې د ښودل کیږي چه شاعر پر جامعه او ژوند کښې څومره رول لوبوي .

په مجله کښې یو لړ مقالې (د لیك پیدا ښت) په نامه د تېزي له خوا نشر شوي دي او ګټور معلومات لري .

په مجله کښې په زړه پورې نشریات هغه د امریکایي زبان شناس پروفیسر پنزل نشریات دي چه د پښتو په متعلق دي .

تېزي او کوثر د پنځل ځینې نظریات ورمات کړي دي او دا یې ثابته کړې ده چه پښتو یوه ډېره پخوانۍ ژبه ده او هغه مقاله (پښتو دوه نیم زره کاله مخکښې) هم په همدې موضوع پورې اړه لري .

محمد عالم اتمان د مجلې په صفحو کښې لیکلي دي چه د پښتو (الف با) ځینې نواقص لري باید په دې موضوع غور وشي، که څه هم ده دې موضوع ته خلك ورجلب کړي دي مګر پخپله یې کومه نظریه نه ده ښکاره کړي او نه یې کوم مواد تهیه کړي دي .

د محمد رحیم الهام مقالې په علمي تحقیق بنادي او د مجلې صفحې یې ښایسته کړي دي . لنډه دا چه د مجلې وظیفه د اذهانو تنویر او د حقیقت ښکاره کول دي او مجله په تدریجي صورت سره خپل ادبي او تاریخي او اجتماعي خوا په مخ بیایي او اوس اوس یې لوړ حد ته رسولې ده (پای)